شریعت

اونیزه

د افغانستان د طالبانو د اسلامی تحریك نشراتی ارگان

لومړی کال   درویشتمه گڼه   دوشنبه د ۱۳۷۵ هـ ش کال د جوزا د میاشتی (۲۱)   د ۱۹۹٦ میلادی کال د جون(۱۰)   د۱٤۱۷ ق کال محرم الحرام (۲٤)

یهود او نصاری مه دوستان کوی

ای هغه کسانو چه ایمان یی راوړی دی (یعنی ای مؤمنانو) مه نیسئ تاسی یهودان او نصرانیان دوستان! (چه له دوی سره موالات او مؤدت وکړئ!). (دوی یو تر بله ځینی دوستان دی د ځینو نورو (ځکه چه ټول سره په کفر کښی شریك دی او ټول تاسی ته متفق دي). سورة المائدة: ٥۱

دری کسان الله(جل جلاله) ته ډیر ناخوښه دي:

حضرت عبدالله بن عباس رضی الله عنهما وایی: د الله رسول صلی الله علیه وسلم فرمایلی دئ: «په خلکو کی دری ډوله کسان د الله(ج) په وړاندی ډیر ناخوښه دي:
۱- په حَرَم کی د الحاد خپوروونکی، ۲- په اسلام کی د جاهلیت د طریقو لټوونکی، ۳- او په ناحقه د یوه مسلمان په وینه پسی گرځیدونکی.
(رواه البخاری، مشکوة شریف)

څوارلس کلن جهاد په دی خاطر پیل او پای ته ورسید چی په هیواد کی د ملت ارزو تر سره او اسلامی حکومت جوړ شی

(مولوی محمد نبی «محمدی»)

موږ د کفر او کمونیزم په مقابل کی څوارلس کاله جهاد ددی لپاره وکړ چی په افغانستان کی یو مستحکم اسلامی حکومت جوړ شی

(پیر سیداحمد گیلانی)

موږ ته پکار دی چی د اسلامی حکومت د جوړولو لپاره خپل ټول امکانات په کار واچوو

(مولوی محمد یونس «خالص»)

دا د لوی خدای فضل دی چی نن موږ د خپل څوارلس کلن جهاد مشران له نږدی څخه گورو

(ملا محمد حسن اخند)

دښمن کوښش کوی چی زموږ د خلکو تر مینځ د پښتو، فارسی، ازبکی او هزاره خبره را منځ ته کړی

(حضرت احمد امین جان مجددی)

دکابل په څمکه اوس هم فسق او فساد اوج ته رسیدلی او هر دول غیر شرعی عملونه پکی تر سره کیږی

(مولوی عبدالعلی دیوبندی)

د تیری پنجشنبی په ورځ د مازدیگر په څلورو بجو د کندهار د تاریخی ښار د مطهری خرقی په جامع جومات کی د یو شمیر جهادی مشرانو په گډون پرتمینه غونډه جوړه شوه.
غونډه د قاری محمودشاه له خوا د عظیم الشأن قرآن د څو مبارکو آیتونو په تلاوت پیل شوه وروسته د اطلاعاتو او کلتور د ریاست د هنر او ادب عمومی مدیر ملا عبدالحی مطمئن د خپلی اوردی وینا په ترځ کی وویل زموږ د مسلمانو خلکو یوازینی ارمان دا وو چی په هیواد کی یو واقعی اسلامی نظام نافذ او د خلکو ننگ، ناموس او مال خوندی شی.
٤ مخ

سرمقاله

تصمیم گیری و موقف مشترك

رهبران محترم جهاد مولوی صاحب محمد یونس (خالص)، مولوی صاحب (محمدی) و پیر صاحب گیلانی که در هفته، گذشته به دعوت تحریك اسلامی طالبان بغرض اخذ تصمیم و موقف مشترك برای حل مسئله، افغانستان به قندهار تشریف برده بودند پس از یك سلسله مذاکرات و مشوره های مطلوب به یك نتیجه، معقول رسیده اند که: توسط صدور قطعنامه، قوی اللحن از ربانی یك بار دیگر به جدیت خواسته اند تا به نقل قدرت بطور واقعی حاضر شود و بمشکلات ملت مجاهد افغانستان بیشتر ازین دوام ندهد، جناب مجددی صاحب نیز همین موقف را تایید و کاپی قطعنامه را امضاء کردند. طرفه اینکه روزنامه، پراودا ارگان دولتی روسیه در حین جریان این مذاکرات در قندهار ضمن یك تبصره برای بار اول موقف ربانی را ضعیف و متزلزل خواند.

بیش از چهار سال است که ربانی بدون جواز شرعی و بدون رضای ملت و رهبران جهاد بقدرت - صرف بنام - چسپیده مصیبت های ناتمام و تلفات بی شمار جانی و مالی بر ملت مسلمان ومجاهد افغانستان تحمیل کرده است، در طول این مدت همه، ملت، همه، امت اسلامی و همه جهان بار ها از وی خواسته است که اقتدار سیاسی را به شخصی و یا اشخاصی بسپارد که مورد قناعت مسلمانان مجاهد افغانستان بوده مشکل افغانستان و منطقه را حل نماید، متأسفانه که وی هر بار طفره زده به بهانه و تعلل و تجاهل از آن گذشته و گفته است که وی حاضر است ولی بشرط اینکه...، و شرط اینکه ...: اشاره بشرطهای ماهرانه ای که در قالب وقت نگنجیده است، هر چند وی پیش از اقتدار مردی هوشیار ونرم خو بنظر میرسید به این پیمانه خیره سری و قساوت و حب اقتدار او را کسی تصور نمیکرد، بگمان غالب دست هایی از داخل و خارج در این بهانه جویی ها برای حفظ همین حالت باوی دخیل است که نه تنها منشأ هزاران مصیبت برای افغانستان و منطقه بلکه برای آینده، خود او و گروه وی خطرناکتر است، قرینه و دلیل چنین دخالت اینست که در این چوکی برای شخص ربانی هیچگونه دست و قدرت اداری و یا اعتبار سیاسی و یا ابرو و عزت ملی نصیب نه شده بلکه همه تشویش، همه لعن و طعن، همه دو و دشنام بر سر او حواله است، مهمتر از همه، مظالم ده ها هزار کشت و خون، وبال این همه ویرانی ها، گناه و بزه، همه فساد و تباهی بر ذمه، اوست که هیچ مسلمان با ایمان در بدل هزاران بوجی از نوتهای افغانی که خودش چاپ میکند نمی خرد و هنوزهم وی باین تباهی خود و جامعه دوام میدهد.

(ص ۲)

د حرکت انقلاب اسلامی افغانستان امیر مولوی محمد نبی (محمدی) له شریعت اونیزی سره په مرکه کښی:

د امیر المؤمنین په توگه د ملامحمد عمر (مجاهد) تعیین د شریعت له نظره بیخی صحیح، د سیاست او روانی وضع په نسبت بالکل معقول کار دی

د طالبانو په سیمو کښی نظم او اداره په داسی طور سره ساتله ده چه سیاست مداران ورته حیران دی

که طالبان همداسی پاك لکه څرنگه چی را پاڅیدلی پاته شول د دارینو کامیابی به ورپه برخه وی

بسم الله الرحمن الرحیم
گرانه حنیفی صاحبه! تا له مانه د مصاحبی خواهش وکه او څو پوښتنی دی تحریري تقدیم کړی.
عزیزالقدر حنیفی صاحب زه په طبع کی له مصاحبو او نشر او آشاعو سره چندان علاقه نلرم ځکه چه مشهوره مقوله ده چه وائی: «البلاء مؤکل علی النطق» له خبرو بلاوی او فتنی راولاړیږی.
خو څرنگه چه د تا نیك احساس او مخلصانه خدمتونه ماته معلوم او ثابت دی نونه غواړم چه ته مأیوسه شی بناً دغه ده ستا سوالونوته به د خپل نظر په بناء او د خپلو معلوماتو په اندازه ځوابونه و وایم خدای دی وکړی چه د تا د خوښی وړ وگرزی او د نورو مسلمانانو ورولو له پاره موجب د بصیرت شی.
(رب اشرح لی صدری ویسرلی أمری و احلل عقدة من لسانی یفقهو قولی)برحمتك یا ارحم الراحمین
۲ مخ

جلسه، بزرگ در ولایت هرات

قونسلهای محترم ترکمنستان، پاکستان، ایران و مشاور نظامی ملل متحد و سرپرست هیئت سویس در این جلسه اشتراك داشتند

ما را در کمپهای نظامی، مقامات ایرانی تربیه نظامی داده با اسلحه ایرانی غرض تخریبکاری به غوریان فرستادند. (اسیران)

خبرنگار ما از هرات خبر میدهد که در این اواخر اجتماع بزرگی به اشراك هزارها تن از همشهریان هرات و مسؤولین دفاتر ولایت در مرکز هرات برگزار گردید.
خبر نگار ما می افزاید که در این اجتماع قونسلهای محترم ترکمنستان، پاکستان، ایران و مشاور نظامی ملل متحد و سرپرست هیئت سویس هم اشتراك ورزیده بودند.
خبر نگار ما میگوید که در این اجتماع اسیرانیکه چند روز قبل از طرف مجاهدین تحریك اسلامی طالبان در ولسوالی غوریان در نتیجه یك عملیات تصفیوی
ص ٤

محترم ملا امیر خان(متقی) له بی بی سی راډیو سره په مرکه کی:

اصلاً زموږ په اصطلاح توپکیان هغه چاته ویل کیږی چی هغوی پاټکونه اچولی، د خلکو مالونه لوټوی او د افغانستان څوارلس کلن جهاد بدناموی

پوښتنه: متقی صاحب پروفیسور ربانی په خپله مطبوعاتی مرکه کی وویل چی دوی غواړی تاسو او جنرال دوستم او نور جهادی او ډیدخلو خواووته هیئتونه واستوی چه دعوت موکړی چی له دوی سره عبوری حکومت کی برخه واخلئ؛ داتاسو منلی ده که نه؟

محترم مولوی محمد یونس (خالص) هرات ته ورسید

د افغانستان د اسلامی حزب امیر مولوی محمد یونس(خالص) په کندهار کی د مشرانو په یوه مهمه تاریخی غونډه کی له گډون نه وروسته د تیری جمعی په ورځ له ورسره هیئت سره هرات ته ورسید.
په هرات کی د هغه ولایت والی او د دایرو رئیسانو محترم مولوی محمد یونس (خالص) او د هغه ملگرو ته تود
٤مخ

به جز حکمتیار سایر گروهها به چوکی بازی نخوردند

به جای اداره، کابل یکجا شدن با طالبانرا ترجیح دادند

هیچ گروه مخالف نیخواهد که به قیمت ریختن خون جنگجویان خود مدت اقتدار ربانی را طول بخشند.

اتحاد حزب و جمعیت به نفع آنها ثابت نخواهد شد.

(تسموسکی پرودا)

در یك مقاله اخبار معتبر روسی (تسموسکی پرودا) آمده است که:
اداره، ربانی در این اواخر به مشکلات شدید مواجه بوده، و ربانی از هر کسیکه کمك خواست جواب مثبت دریافت ننموده، تنها حکمتیار در بدل پوستهای بزرگ به خواست ربانی جواب مثبت داد.اخبار افزوده میگوید: ائتلافها در افغانستان با بیاد چوکی و یا در بدل پول صورت میگیرد به جز از حکمتیار سایر گروهها به چوکی اغفال نشده و بازی نخوردند، و به جای یکجا شدن با اداره، کابل یکجا شدن با طالبانرا ترجیح دادند.
به گفته، سرمقاله، اخبار، هیچ یکی از گروهها نمیخواهند که به ریختن خون افراد جنگی خود به عمر اقتدار ربانی طول بخشند.
اخبار می افزاید از طرف دیگر طالبان بغرض یك اتحاد قومی و ملی چهار تن از رهبران جهاد را به قندهار دعوت نموده اند اگر طالبان با رهبران مذکره جهادی به توافق برسند فتح کابل برایشان مشکل نخواهد بود

هغه ولایتونه چی د طالبانو تر کنترول لاندی دی په هغو کی امن دی

(ابو نفیسه)

د شر او فساد اصلي عامل د رباني بدنامه اداره ده

ملگری ملتونه باید د افغانانو د اکثریت پر معیار یو مرکزی حکومت منځ ته راولی (ملا محمد ربانی).

د طالبانو د اسلامی تحریك مرستیال محترم ملامحمد ربانی د ملگرو ملتونو استازی ابو نفیسه سره وکتل او د افغانستان د مسئلی په اړه وروسره وغږید.
٤ مخ

دفراه ولایت د انار دری په ولسوالی کی یو شمیر د اسلام دښمنان وځپل شول

ځینی تخریبکاران له ایرانی اسنادو سره ژوندی ونیول شول

په فراه څخه زموږ خبریال خبر راکوی چی د هغه ولایت د انار دری په ولسوالی کی تخریبکار عناصر چی غوښتل یی دهغی ولسوالی د خلکو امنیت خراب کړی د طالبانو د اسلامی تحریك د ځواکونو له خوا وځپل شول.
خبر ځای زیاتوی دغه د اسلام دښمنان د انار دری د ولسوالی په مربوطاتوکی ځای پر ځای شوی وو او غوښتل یی چی خپل شوم پلانونه عملی کړی، خو دهغی ولسوالی د اسلامی قوتونو تر سختو گوزارونو لاندی داسی تس نس شول چی ځینی یی
٤ مخ

د ختیکو په پله کی د شهید مولوی نظر محمد د فاتحی مراسم پر ځای شول

له خټکو پله څخه زموږ خبریال خبر راکوی چی د اسلام دزړور سپاهی او د دین د خدمتگار شهید مولوی نظرمحمد فاتحه چی په لومړی دفاعی کرښو کی د کابل د تش په نامه اداری له ملیشو سره په وګړو کی زخمی شوی او بیا په حق رسیدلی و پرون د بکښتیں په
٤ مخ

دطالبانو له اسلامی تحریك سره غوڅ ملاتړ اعلان شو

دکابل له تش په نامه اداری سره د حزب اسلامی ائتلاف محکوم او وغندل شو

په اجینی کی له جیلانیه دارالعلوم څخه زموږ خبریال خبر راکوی چی د ۱۳۷۵ کال د جوزا په ۱۳ نیټه دهغه دارالعلوم په انگړ کی د علماو، طالب العلمانو او عامو خلکو په گډون یوه درنده اوزمینه غونډه وشوه.
غونډه د عظیم الشأن قرآن د څو مبارکو آیتونو په تلاوت پیل شوه، وروسته علماو خپلی عالمانه وینااوی واوروولی، دوی پخپلو ویناوکي د طالبانو له اسلامی تحریك سره خپل غوڅ ملاتړ اعلان کړ او دکابل له تش په نامه اداری سره یی د حزب اسلامی نوی ائتلاف محکوم او وغانده، هغه یی د اسلامی تحریك او حنفی مذهب پر خلاف یو عمل وباله او دایی څرگنده کړه چی روسان او هندوان په ډیره یی
٤ مخ

د مسلمانی عقیده

درېیم مخ

د بین المللی اړیکو ماضی او حال ته لنډه کتنه

دوهم مخ

خدمات دینی و اجتماعی علماء در تاریخ معاصر کشور

جنبش مشروطیت (ثانی) و آغاز انحراف

صفحه دوم

د حضرت عمر(رض) د اسلام راوړلو داستان

ص ۳

راغلي لیکونه او زموږ ځوابونه

(دریم مخ)

زنده باد وحدت و همبستگی نهضتهای اسلامی در سراسر جهان

شریعت

دامتیاز خاوند : د افغانستان د طالبانو اسلامي تحریک
دتاسیس کال : ۱۳۷٤ هـ ش
: لیکوال هیئت تر کتنې لاندې
مسؤل مدیر : الحاج مولوی احمدجان
تیلفون : ۸٤۰۲۷۸
آدرس : په پېښورکښې د طالبانو د اسلامي تحریک نمایندګي
دیوې ګڼې بیه : په هیواد کښې (۲۰۰) افغانۍ
په پاکستان کښې (۳) کلدارې

سرمقاله ...

نظر بایجاب وقت و تراکم مصیب های ملت مجاهد و مسلمان افغانستان و نزاکت حالات، مذاکرات حالیه رهبران جهاد با شورای تحریک اسلامی طالبان از اهمیت تر و ارزش برخوردار است، هر چند فی الحال به یک قطعنامه محتاطانه و معقول انجام یافته ولی تصمیمهای مهم بعدی که عند اللزوم بر اساس همین مذاکرات گرفته خواهد شد با اهمیت تر و با ارزش خواهد بود زیرا دوام حالت موجود برای هیچ کسی از رهبران جهاد و تحریک اسلامی طالبان و عموم ملت قابل تحمل و برداشت نبوده و نه هست و حتماً برای تبدیل آن تصمیم نهایی و قاطع باید گرفت زیرا منبعد همه برای اخذ چنین تصمیم و موقف فیصله کن مشترک خود ها را مجبور می بینند.

ربانی که پوهاند، استاد و پروفیسور حدیث است شاید حالت بد خودش و ملت مسلمان افغانستان را بیش از پیش دریابد، از سحر و افسون نفس اماره و شیاطین انسی و جنی خود را برهاند و از سر صدق نه بطور نمایش برای انتقال قدرت حاضر شود، تا وقتیکه دست از چوکی دروغین برندارد هیچ ممکن نیست که دعوت وی و دولتمردان وی راجع به تفاهم و اشتراک عمل برای جهات دیگر مؤثر و قابل قبول واقع شود زیرا اینچنین دعوت های کاذب دیگر کهنه شده و مردم مجاهد ما به انگیزه و علت صدور آن بلد شده اند.

حکمتیار اندیوال جدید الشمول اداره، کابل نیز از همه چیز پیش باید ربانی را وادار سازد که استعفا بدهد پس ازان دعوت تفاهم را بطور مخلصانه مطرح سازند، زیرا حکمتیار شاید از جنگهای نخستین روز های ائتلاف با اداره، کابل که خودش آن را اداره شوم و منحوس و ناجائز و... میگفت به زیرکی خود فهمیده باشد که جنگها مقدمه و از اهداف اولیه ائتلاف شوم و منحوس و نا جائز شان است که بسیاری از اولاد وطن را طعمه خود کرده آمد و تا پیاده کردن نقشه های بعدی ائتلاف خداوند تعالی میداند که چه اندازه، دیگر از اولاد وطن، دوستان گرامی و اندیوالان عزیز ائتلاف زندگی را از دست خواهند داد و هنوز ثمره این جنگها دور و برای افراد بد قسمت ائتلاف مجهول است، بهترین انسانها آنانند که گوشت خود را بدندان محکم کنند و از درد خود، درد اقربای کشته گان اقتدار را محسوس و دریابد. آنچنان که اولاد ها و اقربای بزرگان ائتلاف را بجنگهای قدرت نمی فرستند باید فرزندان مسلمانان عزیز و هموطن را نیز عزیز دارند و بالای شان دل سوزی کنند.

اداره، ائتلاف که همیشه میگوید جنگ راه حل نیست در عین وقت برای جنگ آماده گی میگیرند و مقدمه چینی میکنند. چنانچه در تعرضات پیهم شان درین اواخر برمواضع مجاهدین تحریک اسلامی طالبان روشن گردید، بدین صورت راه تفاهم دور تر میشود و بدست نمی آید.

اما مجاهدین تحریک اسلامی طالبان که برای اقامه، حکم شریعت و حکومت عدل الهی بر سر پیکار انداز عمل خود مطمئن بوده به خداوند تعالی (جل جلاله) اعتماد و توکل کامل دارند. که دفع فتنه و فساد و قیام نظام الهی بدست شان تکمیل خواهد شد انشاء الله تعالی ■

د مسلمانی عقیده

پورېشتمه برخه

غازي خېل

وخوروول، پندیان کړل او په ورو یې ووهل!
په دې نه برسېره د متکلمینوله لویو معتزله پوهانو سره د اهل سنت و الجماعت لویو لویو محدثینو او فقهاوو رحمة الله علیهم ډیر علمي بحثونه او مناظرې ترسره کړې چې په فقهي میدان کې یې په اختلاف باندې ستره اغیزه وکړه!

دهغه وخت نامتو معتزلي پوهان دغه کسان وو: عمرو بن عبید، وفات په ۱٤٤هـ کې، ابوالهذیل علاف، وفات په ۲۳۵هـ کې او عمرو بن بحرالجاحظ، وفات په ۲۵۵هـ کې.

دوهم (٤) دورتوپېرونه:
لومړی توپیر: دښاري ژوند پراختیا:
کله چې په ۱۳٦هـ کې دابوالعباس سفاح له مرګ نه وروسته، چارو واګې ابوجعفر عبدالله المنصور بن محمد بن علي بن عبدالله بن عباس (رض) په لاس کې واخستې د بغداد ښار پښته یې ددې لپاره کېښود چې د اسلامي لوی مملکت پلازمېنه به وي، په داسې یې ودان یې جوړ کړ چې د هغې زماني د نړۍ تر ټولو ښارونوکې یې ساری نه ؤ، بیا یې له ټولو اسلامي سیمو څخه علماء، تاجران او کسب ګر ورته راغونډ کړل، دده حکومت لاړې نه نه ؤ رسیدلی چې بغداد د نړۍ د ښارونو ناوې شوه او نفوس یې دوو ملیونو ته ورسیدل!

آخوا د اسلامي مملکت په لویدیز اندلس (سپانیه) کې د قرطبې ښار له بغداد سره سیالي کولی شوای چې په اندلس کې داموي دولت مؤسس عبدالرحمن بن معاویه بن هشام بن عبدالملك تر نظر لاندې جوړ شوی ؤ، هلته په افریقاکې د قیروان ښار داسې وو چې د افریقایي ټولو ښارونو ښایست ورته رالیږدول شوی ؤ، دلته په مصر کې د فسطاط ښار داسې ښایسته ؤ چې لوی جومات یې د علماوو په درسي حلقاتو ډک ؤ او د اجتهاد او استنباط ډیر اثاریې په میراث پریښودل او دلویو امامانو فقه یې اسلامي امت ته را نقل کړه په هغو کې د امام مالك (رحمة الله علیه) له شاګردانو ابن وهب او ابن قاسم (رحمة الله تعالی علیهما) او د امام شافعي (رحمة الله علیه) له شاګردانونه ربیع او مزني (رحمة الله تعالی علیهما) او د امام ابو حنیفه (رحمة الله تعالی علیه) له پیروانو نه ابي جعفر طحاوي (رحمة الله علیه) وو، لنډه داچې له بغداد نه فسطاط په علم، تجارت او صنعت کې کم نه ؤ، بیا چې دشام دمشق ته وګورې که څه هم د خلافت شان او شوکت ورنه ولاړ خو عظمت او ښایست یې ساتلی و، کوفه او بصره هم په علماوو او حکماوو ډکې وې، که څه هم بغداد نږدې ؤ خو بغداد نشوای کولای چې دکوفې او بصرې د مدنیت روښانه لمر تیاره کړي! چې لمرخاته ته وګورې نو مرو او نیشاپور او نور ښارونه دغسې په علم، تجارت، زراعت او صنعت باندې ودان وو؛ لنډه دا چې په دغه دورکې د اسلامي لوی مملکت مدنیت او ودانوالي ترټولو نړۍ‌اوچت ؤ نو خامخایې په علمي میدان کې په فقه ډیره لویه اغیزه لرله ځکه چې فقیه به په ډول ډول مسئلو او پوښتنوکې ځواب ته اړ ؤ او ډیره پلټنه به یې کوله.

په معذرت سره د تیرې ګڼې د مسلمانی عقیدې مضمون دوهم توپیر له لومړي توپیر څخه وروسته ولولی

د حرکت انقلاب اسلامي افغانستان امیر مولوی محمدنبی (محمدی) له شریعت اوونیزې سره په مرکه کې:

دغه دی اوس د سوالونو په ځواب شروع کوم

* پوښتنه:
جناب محترم امیر صاحب!
لکه څرنګه چې خبریاست په دې وروستیو ورځو کې جمعیت اسلامي او حزب اسلامي د حکومت جوړولو له پاره سره یوشوې دي ستاسوپه نظر د دوی ائتلاف به تر څومره حده پورې د افغانستان مشکلات حل کړي شي؟

او که ریښتیا هم د دوی ائتلاف مضبوط شي د طالبانو د اسلامي تحریك په مقابل کې به یې تاثیر څه وي؟

ځواب:
څرنګه چه د مسلمانانو اتفاق په خپل ذات کې یوه اسلامي وجیبه او د الله پاك له طرفه یو مهم مامور به دی نو مسلمانان هر څوك چه په هر ځای کې وي او په یوه نیك کار باندې اتفاق سره وکړي هغه به موجب د خیر او فلاح وي نو د جمعیت او حزب اتفاق هم که په نیك نیت سره وي موجب د خیر به شي.

داچه تاسو پوښتنه وکړه چه د جمعیت اسلامي او حزب اسلامي ائتلاف به تر څومره حده پورې د افغانستان مشکلات حل کړي شي په دې متعلق د ما نظر دا دی چه نوموړی ائتلاف به د مشکلاتو د حل به هکله مؤثر رول ولوبه وي شي خو هلته چه پنځه شرطونه ورسره مراعات کړی شي اول داچه د دوی ائتلاف او اتفاق صادقانه مخلصانه اسلامیانه خدای پرستانه او ملت پرورانه وي نه شخصیانه او حزبیانه، (ددې کلماتو مفاهیم او د هغو نتائج مرتبه هر چاته معلوم دي او هر څوك پې پوهیږي نو شرح او تفصیل ته یې ضرورت نشته) دوم دا چه دوی په دغه ائتلاف او اتفاق کې رلو اسلامي جهادي ګوندونوته او دغه ډلګه مؤثرو متنازعه جهتونوته شمول او عادلانه او منصفانه حقوق ورکړي.

دریم داچه عجالتاً کوشش په کار واچوي شرائط مساعد او زمینه برابره کړي چه عند الموقع زر تر زره ملت ته د سرنوشت د تعیین حق په کمال صداقت او پوره امانت سره وروسپاري چه ملت په کامله آزادۍ او عام او تام اختیار سره خپل سرنوشت و ټاکي.

څلورم دا چه منحرف عناصر له خپلو صفونو څخه وباسي ځکه چه د ټولو بدبختیو اصلي عوامل هم دغه خلق دي نو باید چه د دوی د تخریب امکانات له بېخه لاړ شي.

پنځم دا چه د اجانبو له تقلید رهنمائی او هدایاتو څخه لاس واخلي او دهغوی د مداخلې لاسونه له افغانستان څخه لنډ کړي د الهی ارشاداتو په رڼا کې له خپل اسلامي افغاني فکري استقلال څخه کار واخلي نوکه د دوی ائتلاف په دغو اصولونا وي نه نتیجه به ورکوي او که دغسې نه وي بلکه ائتلاف تظاهري او تخادعي وي او په اصطلاح دغلوله واره سره یو‌ل شوي وي او د پردي شاته هغه اش او کاسه وي لکه چه څوڅو واری دغه رنګه ائتلافونه شوي دي نونه تنها چه ښه نتیجه به ورنکړي بلکه تشنج به لاپسې زیات کړي.

تاسي ویوښتل چه که ریښتیا د دوی ائتلاف ... شي د طالبانو د اسلامي تحریك په مقابل کې به یې تاثیر څه وي

د دې پوښتنې ځواب دادی چه ما قبلاً و ویل چه دا ائتلاف په هغه وخت ښه اثر ولري او نیکه نتیجه به ورکړي چه صادقانه مخلصانه، اسلامیانه، خدای پرستانه او ملت پرورانه وي نو که نوموړي ائتلاف په دغو پنځو ذکر شویو نقاطو قائم او استوار وي نو د طالبانو د اسلامي تحریك په مقابل کې به یې تاثیر ښه وي ځکه چه دوی به طالبانوته د حقه حقوقو قائل شي د هغو په معنوي بیثبت او ظاهري قوت او قدرت به اعتراف کړي نو د هغو واقعي او حقیقي استحقاق به وويني او په مقابل کې به یې نیك پیش آمد وکړي نو د ائتلاف تاثیر به ښه وي.

یادونه : دا خبره دی پاته نه وي چه دایو فرګند حقیقت او مسلم واقعیت دی چه د طالبانو اسلامي تحریك یو پاك بی آلایشه للهی تحریك دی صرف په ایماني جذبه او اسلامي غیرت د فجائعو، فواحشو، مفاسدو مناهي وو او منکراتو په مقابل کې را پاځیدلی دی نه کوم شوم مادي غرض پکښې شته نه کوم مغرض او مخرب لاس په کې شامل دی او نه د کوم تعصب په بنیاد را ولاړ شوی دی که مغرض مدعي اوتې بوتې وائي چه په دې تحریك کې خارجي لاس دی او هغه ده او دغه ده داډول دوغه مدعي د څیرنې آینې انعکاس دی او به ده باندې مسلط شوی وو اس دی خو حقیقت او واقعیت له دغو ټولو پوچو پروپاګندو څخه خلاص دی. طالبان د علم دین هغه طبقه ده چه د اسلام پیغمبر جناب حضرت محمد (صلی الله علیه وسلم) په داسې یو حیثیت او موقف ورته قائل دی چه هغه موقف په امت مسلمه کې هیچانه ندی ورکړ شوی هغه موقف دادی چه رسول کریم (صلی الله علیه وسلم) وائي: «و انَّ الملئکة تضع اجنحتها رضی لطالب العلم»

یك قدم در طلب علم به جایی برسد
که به صد گونه عبادات به آن کس نرسد
قدمش را چو ملائك به پروبال برند
شرف طالب علم است به هر خس نرسد

دهمدغه مبارك او ممتاز موقف تاثیرات دی چه طالبانو د دین همیشه د فسق او فجور او فحشا و په مقابل کې مبارزې او مجادلې کړې دي او کوم وخت چه اسلامي جهاد رامنځ ته شوی دی د دین طالبانو په خط اول کې سنګر نیولی دی لکه چه د روسي جهاد پرونۍ صحنه ددې خبرې شاهد عدل او ښکاره ثبوت دی.

چه دا ننني را پاڅیدلي طالبان دهم هغې صحنې سربازان او دهم هغه سنګر فداکاران او قهرمانان دي چه پرون یې دکفر او الحاد په مقابل کې جهاد کاوه او نن د فسق او فساد په مقابل کې مجاهده او مبارزه کوي، له بلې خوا د طالبانو اسلامي تحریك داسې یو قوت دی چه په سیاسي لحاظ په نیم افغانستان باندې حاکم او مسلط دی او په نظریاتي او عقیدوي لحاظ په ټول افغانستان باندې مسلط دی نو په دغه اساس د طالبانو تحریك د زیات اهمیت وړ دی او دفوق العاده استحقاق مستحق دی نو که د جمعیت او حزب ائتلاف له حقیقت څخه کار واخلي او واقعیت ته تسلیم شي او انصاف ته غاړه کیږدي نو د طالبانو اسلامي تحریك ته په هغه معیار او په هغه مقدار استحقاق قائل شي چه حقیقت او واقعیت یې ایجابه وي او په دې صورت کې به د دوی ائتلاف د طالبانو د تحریك په مقابل کې ښه تاثیر ولري، او که د دوی چالچلند په خلاف د دې حقائقو او واقعیتونو وي او په دوی کې د شخصیت پرستي قدرت طلبي او پارټي پروري غریزه کماکان السابق همهغسې قوي او محکمه وي او دهغې دپاره هلې ځلې کوي نو ائتلاف به یې نه تنها چه د طالبانو د تحریك په مقابل کې بدتاثیر وکړي بلکه د افغانستان موضوع به لاپسې کړکیچنه او کشاله به یې لاپسې اوږده کړي.

پوښتنه:
محترم امیر صاحب!
دیوې اطلاع په بناء حزب اسلامي په عامه سطح کوشش کوي چه په دغه ائتلاف کې ټول جهادي ګوندونه سره راغونډ کړي آیا تاسو سره یې په دې باب کومه رابطه نیولې که نه؟

ځواب:
نه تر اوسه پورې یې هیڅ رابطه له ماسره نده نیولې.

پوښتنه:
جناب محترم امیر صاحب!
لکه څرنګه چه خبریاست څه موده مخکې د اسلامي تحریك په مرکز قندهار

(۱ مخ)

خدمات دینی واجتماعی علماء در تاریخ معاصر کشور

مشروطیت (ثانی) وآغاز انحراف

قلم، جوادی

قسمت هفتم

در سطور گذشته گفتیم که منبع الهام فکری مشروطیت (ثانی) جنبشهای فکری ترك و عرب بودند. محمود طرزی که محور اصلی و شخصیت مرکزی جنبش را تشکیل میداد از سن ۱٦ سالگی تا ۳۵ سالگی تقریباً ۲۳ سال را در محیطهایی بسر برد و تعلیم و تربیه دید و با رجال جنبشهای فکری عرب و ترك محشور گشت که مصروف پیکار و مبارزه در شکل مجموعی خود علیه خلافت اسلامی بودند و وجه مشترك همه را:

۱- هر دو در صدد بودند تا نظام اسلامی خاصتاً سلطان عبدالحمید را از میان بردارند.

۲- هر دو جنبش ملی گرائی تقریباً همزمان و هم وقت روی کار شدند گرچه ملی گرائی عربی بر ملی گرائی ترکی مقدم بود.

۳- هر دو جنبش و ملی گرائی، ملحد و بی دین بودند و در طرد و دورساختن اسلام از زنده گی مردم نظر موافق داشتند.

٤- هر دو جنبش فکری و داعیه ملی گرائی در آغوش اجنبی پرورش یافته، جنبش فکری و ملی گرائی عربی در آغوش امریکا و در دانشگاه بیروت و ملی گرائی ترکی (طورانی) در آغوش ماسونیان یهودی که از سازمانهای آنها یهودان اسپانیه، پولند و ایتالیه نظارت میکردند پرورش یافتند.

٥- رهبران هر دو دعوت و جنبش فکری (ملی گرائی) عربی و ترکی در آغاز کار اصلاً مسلمان نبودند و نه از جنس آنهائیکه به ملی گرائی فرا، میخواندند. مثلاً «موررپسکی» که بعداً خود را به مصطفی جلال الدین مسمی گردانید، یك پولندی اصیل بود، او ملی گرائی پولند را با خود به ترکیه آورد و در قالب ملی گرائی ترکی ریخت و از زمانیکه سازمان اتحاد و ترقی عرض اندام کرد میان رهبران آن هیچ یك ترکی صاف و اصیل موجود نبود، انور پاشا یك پولندی مرتد و جاوید از طائفه، یهود، دوفه، وکراسو از یهود اسپانیه وکیل مدافع یهودی ماسونی که مشرف بر محافل ماسونی سالونیك و طلعت پاشا یك کجر بود و احمد رضا، مردی بود دو رگه چرکسی و مجارستانی، تحت فلسفه کومت قرار داشت.

و رهبران نخست فکری و ملی گرائی عرب مانند بطرس بستانی، و پسرش ابراهیم یازجی، شدیاق، ادیب، اسحق، نقاش، شمیلا، تقلا، صروف، زیدان نمر و مشاقه همه نسبت غیر اسلامی داشتند و همه بطور مطلق نصارا بودند بعد ازین مرحله قرن بیستم فرا، میرسد و زعامت این جنبش به زکی ارسوزی، میشل عفلق روسا، حزب بعث تکیه میکند. انطوس سعادت و جورج عبدالمسیح از رهبران حزب ملی گرائی سوریه و جورج حبش جنبش ملی گرائی عرب بودند.

کاردینال بریتولی برای پاپ میگوید: (این آیین مسیحیت بود که در شرق تخم جنبشهای انقلابی و تغییرات بنیادی را کشت و نامهای میشل عفلق، انطون سعادت، جورج حبش بهترین دلیل برای اثبات مدعا بشمار می آید).

٦- یهود ماسونی رهبران هر دو جنبش را بکار و فعالیت تحریك و تشویق مینمود و از همین جهت اندیشه، ملی گرائی در محافل ماسونی راه یافت پنج نفریکه برای بار اول سازمان مخفی (بیروت) را ایجاد کردند همه ماسونی بودند و هم چنان منادیان جنبش ملی گرائی ترك نیز ماسونی بودند.

ستون وستون مینویسد: (حقیقت آشکار و انکار ناپذیر اینست که تشکیل سازمان اتحاد و ترقی کاملاً غیر ترکی و غیر اسلامی است و از زمان تأسیس زعما و پیشوایان آن هیچگاهی ترکی صاف و اصیل نه بوده اند. انور پاشا پسر یك پولندی مرتد است، جاوید از طائفه، معروف یهود دوفه است و کراسو یك یهود اسپانیه است که در شهر سالونیك مقیم بوده است، و طلعت پاشا حسب و نسب کجری دارد که اسلام آورده است و احمد رضا، یکتن از پیشوایان این سازمان در همین وقت و زمان مردی است دورګه چرکسی و کجری و علاوه بر آن پیرو مدرسه فلسفی کومت است). ستون وستون می افزاید: آن عده کسانیکه ملی گرائی را بر اساس اندیشه های خود به حرکت در می آورد یهود بودند و یهودانی اند که مسلمان شده اند و کمك ها برای آنها از طریق، دوفه، و یهودانی ثروت مندی سالونیك میرسید.

همچنان آنها از دریافت کمك های برخوردار بودند که از ثروتمندان جهان و نظیر آن مانند ویانا بوداپست، برلین و شاید هم از پاریس و لندن می رسید).

۷- بعضی از رهبران که برای محو و طرد اسلام از قلمرو ترکیه نقشه میکشیدند به قاهره عزیمت کردند مثلاً عزیز مصری که در سازمان اتحاد و ترقی عضویت داشت و همین شخص بود که دو جمعیت (قحطانی و عهد را) ایجاد کرد و - ناحوحایم- بعد از سقوط خلافت اسلامی در ترکیه آهنگ قاهره کرد این شخص در سیاست مصر بسیار مؤثر افتاد و همچنان اسماعیل ادهم از ترکیه به مصر آمد و کتاب تحت عنوان: «چرا من بی دینم» نوشت و به تأسیس و ایجاد «مجمع شرق» به خاطر نشر بی دینی پرداخت.

۸- ملی گرائی و جنبش فکری عربی تحت افکار سیاسی امریکا واقع بود و جنبش فکری ترکیه «طورانی» از انقلاب فرانسه الهام میگرفت، سفیر برتانیه- لاوزر- در آستانه، به وزیر خارجه خود «هادینك» در ۱۹۱۰/٥/۲۹م مینویسد: «در سالونیك مقر سازمان اتحاد و ترقی- ترکان جوان یکصدو چهل هزار یهود اقامت دارند از جمله هشتاد هزار یهود اسپانیه، بیست هزار از عشیره لاوی و اینها همان یهودانی اند که به ظاهر مسلمان شده اند بخش اعظم این یهودان اسپانوی الاصل اند اما در گذشته تابعیت اسپنیه را کسب کرده اند و آنها ماسونی اند).

در اخیر قرن ۱۸ خطرناکترین حادثه، که نقطه، عطف و تحولی است که در کنار جنگ و مقابله، فکری و عقیدوی صلیبت علیه امت اسلامی متوجه جهان اسلام و خلافت عثمانی انعقاد کنفرانس بال در سال ۱۸۹۷م از طرف هرتزل یهودی در سویس میباشد.

یهود جهان بعد از ختم کنفرانس آستین بر زدند و دامهای برای شکار جهان اسلام گسترانیدند و هدف اصلی از آن دست یافتن به فلسطین بود.

در همین کنفرانس هر تزل توانست سازمانهای یهودی را که تا آنوقت دولت و اداره، مستقل نداشتند گرد هم جمع نمایند و پیرامون قضایای عالی یهود تصامیم اتخاذ نمایند.

در اختتام همان کنفرانس هرتزل اعلان داشت که دولت یهود تأسیس شد و در پنجاه سال بکار خود آغاز خواهد کرد.

در همان گردهم آئی مجامع یهودی به تصویب پروتوکولهای دست یافتند که در عصر حاضر (قرن بیستم) بخش اعظم ویرانیهای جهان زاده، همان پروتوکولها میباشد.

نتائج پروتوکولها در این گفته اوسکار لیفی خلاصه میگردد: «ما یهودیان پیشوای جهانیم فتنه می انگیزیم و جهانرا بفساد میکشانیم». این پروتوکولها زمانی افشاء شد که روسیه بر مقر گروهی صهیونی یهودی حمله ور شده و اسنادی بدست آوردند و این اسناد و مدارك بواسطه داکتر نیولس تجزیه و تحلیل شد و نتیجه گرفته شد که: روسیه قیصری و امپراطوری عثمانی در شرف و آستانه، نابودی قرار دارند.

در قسمت از پروتوکولها بطور مشخص دیده میتوانیم که گفته شده است: ما اندیشه خدا پرستی را از مسیحیان دور خواهیم کرد.

در پروتوکول چهاردهم آمده است: وظیفه، ما است تا کلیه ادیانرا محو نماییم.

عده، زیادی از مؤرخان و صاحب نظران بر این عقیده اند که هر ویرانی و بی نظمی در کنج و کنار دنیا پیش می آید به شکلی از اشکال دست یهود در آن میباشد.

گفته شد که هدف اصلی و نهائی از کنفرانس بال دست یافتن به فلسطین بود که در سر این هدف و راه خود خلافت عثمانی و شخصیت نیك و مسلمان همچو عبدالحمید را میدیدند.

در قدوم اول یهود سعی کرد که سلطان عبدالحمید را به خیر و مصلحت خود استعمال کند که چنین نشد.

سلطان عبدالحمید وقتی بر اریکه خلافت تکیه زد مدحت پا شا پدر آزاده گانرا اما از نظر نویسنده کتاب (تغییر مسیر تاریخ در جهان اسلام) پدر ماسونیت را که بر سلطان عبدالحمید شرط گذاشته بود که قبل از احراز چوکی خلافت قانون اساسی را که در آن قانون بی دینی ساخته غرب که یهود و نصارا را با مسلمان یکسان باشد، اعلان دارد، در ابتداء سلطان عبدالحمید این شرط را پذیرفت، چون آنرا خلاف عقیده، اسلامی و خلافت میدانست از آن اعراض کرده، مدحت پاشا را زندانی کرده که در نتیجه مدحت پاشا در طایف بشکل مرموز در گذشت که قتل آن قهر و غضب غربیان و غرب پرستان جهانرا که از جانب ماسونیت یهود تبلیغ و تشویق میشد برضد عبدالحمید به جوش آورد.

شاگردان و پیروان مدحت پاشا در پی برنامه ریزی انتقام از عبدالحمید شدند. هرتزل مبتکر و طراح کنفرانس بال به ملاقات سلطان عبدالحمید رفت و در بدل کمکهای گزاف مالی و تعمیر مؤسسات عمرانی خواستار خریداری زمینهای بدون مالك فلسطین شد به هر قیمت که خلیفه لازم بداند آنرا خواهد خرید.

در مقابل خلیفه خشمگین شده گفت: (زمینهای وطن هر گز فروخته شده نمیتواند زمین هایکه در بدل خون فرزندان خود بدست آمده باید در بدل خون از دست برود).

هرتزل ۱۹۰۱م باز به دیدار سلطان عبدالحمید رفت و این بار کمك یکصدو پنجاه میلیون پوند طلا انگلیس را عرضه داشت. سلطان در مقابل گفت: (اگر روی زمین را طلا فرش نماید هرگز نخواهیم

ص۳

د اسلامي دولت بین المللي اړیکي:

د بین المللي اړیکو ماضي او حال ته لنډه کتنه

مولوی عبدالحکیم «مجاهد»

لوی خدای (جل جلاله) انساني فطرت داسې پیدا کړی دی چې په پواخیشوب او انزوا کې ژوند نشي کولی، داکه وګړی وي یا ټولنې او یا دولتونه، دوی ټول یو بل ته په ژوند کولوکې اړه لري. حتی پرته له انسانانو د الله (ج) نورمخلوقات هم د انسانانو په شانې یوبل ته په ژوند کولو کې اړه لري لوی خدای (جل جلاله) فرمایي: «په ځمکه کې هیڅ داسې ژوندي سرې نشته او نه خو په دوو کوځرو باندې الوتونکې مارغه موجود دي، مګر خو داسې په شانې امتونه(مخلوقات) دي» (الانعام- ۳۸).

انسانان یې ملتونه او پرګنې ددې پاره ګرځولي دي چې یوبل سره وپیژني، له همدې کبله ده چې بشري ټولنې د تاریخ په اوږدو کې د خپل منځي اړیکو لپاره یو شمیر اصول او قوانین مراعات کړي دي. داکه دلرغونی انساني ټولنې دلومړنی تمدن په اساس وي او که د اوسني پر مختللی معاصري ټولنې د پرمختللی تخنیك او تهذیب په بنسټ وي. مونتسکیو په خپل کتاب «روح القوانین» کې لیکي: «هر ملت بین المللي قوانین لري، ان تر دې هغه ابروکوایان (Ibroquois) چې له ځانه سره بندیان خوړي!! دوی نوروته خپل نمایندګان لیږي او دنورو د نمایندګانو هر کلی کوي. دوی دسولې او جګړې حقوق پیژني، سره له دې چې دغه قانون په روغتیایي اصولو باندې نه دی ولاړ.»

مونتسکیو د بین المللي قوانینو په اصطلاح سره د قومونو او پرګنو تر منځ یو شمیر رواجونو او عنعنو ته ګوته نیسي، دا ځکه چې د بین المللي اړیکو د معاصر قانون عمر له ډیرو پیړیو څخه زیات نه دی. نو موږ د خپل بحث په دوران کې لومړی باید د بین المللي اړیکو د ماضي او معاصر انکشاف لنډه یادونه وکړو او بیا د اسلام په رڼا کې د بین المللي اړیکو د اصولو او قوانینو مفصله او مدلله څیړنه وکړو څو لوستونکي په مقایسوي توګه د اسلامي دولت د بین المللي اړیکو په ماهیت او اهمیت باندې ښه پوه شي. او بالاخره وګوري چې د قرآن او سنت په رڼا کې له خپلو لویو ارزښتونو سره ... په عمل کې یې پلی کاندي

۱- اسیایي او افریقایي مسوله:
که د انساني تاریخ پاڼې ... پلټو وګورو هرومرو به راته څرګنده شي چې په شرق کې به خپل لرغوني تاریخ کې د ملتونو تر منځ یو لړ داسې معاهدې او تړونونه شوي دي چې دوی د ننګو بین المللي اړیکو ښکارندوی دي دا دول لرغوني تړونونه او معاهدې د بابلیانو، اشوریانو، مصریانو، چینایانو ... او قدیم هندوستان په لرغوني آثاروکې په سترګو کیږي.

ډاکتر محمد حافظ غانم په خپل کتاب «مبادی القانون الدولی العام» کې لیکي: «په ۱۲۷۸ قبل المیلاد کې د مصر د فرعونانو دوهم رمسلیس دحثیشیانو د پاچا خاتوسل سره د دواړو هیوادونو تر منځ د سولې په اړوند یو تړون یا معاهده لاسلیك کړې وه. چې کیدای شي په دغه معاهده کې د دواړو هیوادونو تر منځ د سولې او جګړې په ارتباط د بین المللي اړیکو یو شمیر لومړني اصول او قوانین موجود وي.»

ډاکتر محمد عزیز شکري په خپل کتاب «المدخل الی القانون الدولی العام وقت السلم» کې لیکي: «د چین دولت به ګاونډیو هیوادونو ته نمایندګان او د پلوماتان لیږل. دوی به د هغه قانون څخه پیروي کوله چې زر کاله د میلاد نه مخکې په هندوستان کې خپور شوی او د جګړې، معاهداتو او سفارت په هکله یې د بین المللي اړیکو یو شمیر اصول درلودل.

همدا راز د فارسي دولت په هکله ویل کیږي چې د مجوسي دین پیرو ؤ، نه لرغوني تمدن یې درلود په سیمه کې یې په اقتصادي او سوداګري کرښو باندې دواك او تسلط دپاره له ګاونډیو هیوادونو سره جګړې کړي دي؛ دسولې په خاطر یې تړونونه او معاهدات کړي دي. د فارس او د روم تر منځ مناسباتو ته قرآن کریم داسې اشاره کوي: «د روم (خلك) په دغه نږدې ځمکه کې مغلوب (اله مانی سره مخامخ) شول. او دغه رومیان به له دغې ماتې نه وروسته ډیر ژر په (فارسیانو) باندې په یو څو کالونوکې غالبه شي. دغه پخوانۍ (دفارسیانو غلبه، او وروسته (د رومیانو غلبه) پواځې د الله (جل جلاله) کار دی. او په دغه ورځ به مؤمنان د الله په مرسته (چې له رومیانو سره یې کړې) خوشحاله شي». (الروم-٤)

۲- د یونانیانو اړیکې:
یونانیانو به دسولې او امن په وخت کې د خپلو هم جنسو، هم ژبو او هم دینه ښارونو تر منځ د نمایندګانو تبادله کوله، په کانفرانسونو او غونډو کې به یې برخه اخیستله او تړونونه به یې لاسلیك کړل. د جګړې په وخت کې به یې په خپل منځ کې په یو شمیر قوانینو باندې عمل کاوه، لکه د مړیو په ښخولو، د بندیانو په خه ... او د عبادت ځایونو د سپیڅلتیا د قوانینو مراعت کول. خو له نورو قومونو او ملتونو سره یې په دغو قوانینو عمل نه کاوه، همه به یې د ځان غلامان ګڼل. دا ځکه چې دوی له نورو څخه ځان خپل ځانونه متمدن دواك خاوندان او نور ...

۳- د رومیانو اړیکې:
همدا راز رومیانو هم خپل ځانونه له نورو ملتونو څخه لوړ بلل ... امپراطوري یې درلوده، له ګاونډیو هیوادونو او ملتونو سره به یې جګړې وې. ... د هغوی ... د همدې ... ته حلال ؤ، په هغو باندې تیری کول ... خو رومیانو یو شمیر اصول ... چې د هغو په واسطه به اړیکې ... دوو ترسلطه لاندې ملتونو تر منځ ... اصولونه یې «قوانین بین المللي» ... خو دغو قوانینو اطلاق په نورو ملتونو باندې ... د هغو په خلاف یې پواځې له یو ... څخه کار اخیست چې (Might is right) (قدرت حق دی) او په دې توګه به یې له نورو سره خپلې اړیکې له نظامي نقطه نظر نه ساتلې.

په عمومي توګه ویلای شو چې لرغونیو او پخوانیو قومونو د ملتونو تر منځ د مساوات او برابرۍ حق په رسمیت نه پیژندل. د دوی تر منځ د بین المللي اړیکو متمدن اصول موجود نه ؤ، د سولې او امن په ځای به زیاتره د جګړې او دښمن په حالت کې اوسیدل، حق به له هغه چاسره ؤ چې زور به ورسره ؤ، انصاف او عدالت چانه پیژندل. ■

د حضرت عمر(رض) د اسلام راوړلو داستان

نور احمد «ناصری»

په مکه معظمه کښی چه کله پر اسلامی دعوت باندی هغه پړاو راغی چه مسلمانان د بی رحمه او بی مروته کافرانو له لاسه ډیر تنگ شول، د هغوی ظلمونه له حدنه تیر شول نو یو شمیر مسلمانان د الله پاك د حبیب(ص) په اجازه حبشی ته مهاجر شول او سره له دی چه قریشو ډیری دسیسی په کار واچولی تر څو چی په حبشه کښی هغوی ته پناه میسره نشی، خو بیا هم شیطانی توطئوئی کوم ځای و نه نیو او هلته مسلمانوته د امن کور پیدا شو، نو بدغه کار سره د مکی یو شمیر سرداران په تیره بیا حضرت عمر (رض) ډیر سخت په غصه شو او وی ویل چه محمد(ص) په قریشو کښی درز اچولی دی، خپلو کی ئی خوځی کړیدی او په خپلو کی ئی په جنگ سره اخته کړی دی زه به دغه د سر د غوڅولو سره له دغه مصیبت نه قوم بیخمه کړم، نو ئی توره را واخیستله له کوره ووت او د محمد(ص) دلپهولو لپاره روان شو. په تصادفی ډول په لاره کښی د بنی عدی قبیلی یو تن نعیم بن عبدالله (رض) ورسره مخامخ شو، هغه د مخه په پټه مسلمان شوی و، هغه چه ولیدل چه عمر(رض) په ډیر جوش روان او توره ئی هم له ملاځوړنده کړیده نو اندیښمن شو او پوښتنه ئی وکړه: د خطاب زویه چیرته روان ئی؟ عمر (رض) ځواب ورکړ هغه چاته ورځم چه زمونږ له دین نه اوښتی دی، زمونږ خدایانو توهینوی او زمونږ نظام گډ و ډوي. نعیم (رض) دعمر (رض) د ارادی بدلولو په خاطر سمدلاسه یو تدبیر وسنجاوه او وی ویل: عمره! لږ په سد شه، که ته محمد(ص) و وژنی نو بنی عبدالمناف به تاژوندی پریږدی؟ او بله دا چی مخکی له دی چه ته هلته ورشی له خپل کورنه ځان خبر کړه! عمر (رض) پوښتنه وکړه: څه دی ویل؛ زما په کور کښی څوك؟

نعیم (رض) ځواب ورکړ: هوا ستا خور او اوښی مسلمانان شویدی د محمد(ص) دین ئی قبول کړیدی. ددی خبری په اوریدو عمر (رض) هك پك پاتی شو، داسی تاؤجن شو لکه چی په ټول بدن کی ئی اورلگیدلی وی. د هغه خور او اوښی اسلام راوړی و، د اسلام په خاطر ئی د خپل مرگ او ژوند فیصله کړی وه، خو عمر (رض) ورڅخه تر اوسه نه و خبر، خپله لاره ئی بدله کړه، د خپلی خور د کور خواته وگرځیده سینه ئی له غصی تنگه اورگونه ئی پړسیدلی وو هلته چه ورسیده نو دننه څخه د څه شی لوستل کیدو آواز راتلی دروازه ئی په زوره وټکوله، د کور خلك وارخطا شول پوښتنه ئی وکړه: څوك دی؟ ځواب ورکړ شو عمر! د عمر (رض) د خور نوم فاطمه (رض) او د اوښی نوم ئی سعید(رض) و، دواړو په دی وخت کښی د خباب (رض) نه قرآن لوسته، خباب (رض) پخپله پیغمبر (ص) د قرآن شریف معلم ټاکلی و! نازل شوی آیتونه به ئی هغوی ته لوستل او هغوی به زده کول، په دی وخت کښی خباب (رض) سورة طه لوسته.

دعمر(رض) د آواز په اوریدلو هغوی د نه چپ شول له کومی صحیفی نه ئی چه لوسته هغه فاطمی(رض) پټه کړه، سعید(رض) وړاندی ورغی دروازه ئی پرانستله.

د دروازی له پرانستلو سره سم عمر (رض) په غضب را ننوت ها خوا دیخواته ئی سترگی وغړولی چه دا اوس می چی کوم آواز تر غوږه کیده هغه له کومه ځایه راته. خو لیدل ئی چه له خور او اوښی نه پرته ئی بل څوك نه ؤ. د غوسی نه په ډکه لهجه ئی پوښتنه وکړه همدا اوس له کوم ځای نه آواز راته؟ دوړی لامله ډیر بدحالت د رښتیا رښتیا ویلو جرئت ونشو، نوئی پلمه وکړه، دلته خو هیڅ نشته، عمر (رض) وویل: مه پټوئ، آیا تاسی فکر کوئ چه زه د ستاسی له اسلام نه بی خبره یم؟ داتی وویل او پر خپل اوښی ئی حمله وکړه، د هغه پر وهلوئی شروع وکړه د فاطمی (رض) سترگی ددغه حالت لیدلوته ړنی نشوی، د خپل میړه د خلاصون لپاره ور وړاندی شوه خو عمر(رض) پر هغی هم گذار شروع کړ او دومره ئی ووهله چه د هغی سر وچاوده، د عمر(رض) په وهلو سره د عقیدی له جوش نه بخری پورته شول، میړه میرمنی دواړو په لوړ آواز وویل! هو مونږ ایمان راوړی دی څه چی کولای شی ایله مکوه دغه آواز د عزم او سوز په طوفانی ځپو کښی ډوب شوی آواز د زړه له تل نه راوتلی آواز په مستقیم ډول د عمر(رض) په زړه ولگیده، دومره مؤثر و چه د عمر (رض) داور لپاره اوبه وی دعمر تیزه غوندی زړه ئی ویلی کړ د بی رحمی، د گوزارونو نه ئی لاس ونیوه د خور له سرنه ئی د وینو فواری جاری وی، د دی دردونکی منظر په لیدو ئی زړه مات شو د خجالت په لهجه ئی وویل:

تاسی چه څه لوستل هغه ماته هم را وښیئ، تر څو زه هم وگورم چه هغه څه دی، خور ئی وویل: زه ویریږم، که هغه صحیفه در کړم بیرته به ئی را نکړی. عمر (رض) ډاډینه ورکړه، قسم ئی وخوړ چه ارومرو به ئی بیرته درکړم، فاطمی(رض) هغه صحیفه ورکړه، په زړه کی ئی تمناوه چه کاشکی زما وروور اسلام راوړی، عمر (رض) هغه صحیفه واخیستله په غور سره ئی وکتله چه وی لوستله زړه ئی ولړزیده، له ډیری ویری و ریږدیده، بی اختیاره ئی له خولی ووتل څومره ښه او سپیڅلی کلام دی دا!

> نمی بینی که سوز قرائت
> دگر گون کرد تقدیر عمر را

خباب (رض) نژدی پټ ناست و، ټوله ماجرائی کتله سمدلاسه دباندی را ووت او وی ویل: عمره د خدای (ج) رسول دعاکړی وه چه وخدایه دهشام په زوی ابوالحکم یا د خطاب په زوی عمر سره د اسلام تائید وکړه» عمره په خدای(ج) قسم چه زه فکر... خدای(ج) ستا په حق کښی دغه دعا منظور کړه، ... د هغه درگ ... عمر (رض) وویل ډیره ... چیرې دی همدا اوس ورځم. مسلمانیوم ... خبری په اوریدو سره دخباب (رض) زړه له خوشحالی نه په ټوپونوشو وی ویل هغه د صفا غره ته نژدی د ارقم (رض) په کور کښی دی.

الله، الله !!......د فاطمی (رض) د ژوند داڅومره له خوښی ډکی شیبی وی، او سعید (رض) څه څومره خوشحاله و اندازه ئی گرانه ده نن د فاطمی(رض) وروور او د سعید (رض) اوښی په اسلام مشرف شوی ؤ، چه د دوی کور ته راغی نو د محمد(ص) دښمن او د وینو تږی ئی وه، او چه ورڅخه ته نو یوازی د خدای غلام او د محمد(ص) فداکار ؤ په مټو منډه روان و چه ورشی او محمد(ص) خپل آغا کړی او په مبارکو قدمونوکی ئی خپل سر کیږدی عمر (رض) د ارقم (رض) کورته ورسیده، دروازه ئی وټکوله د بلال(رض) آواز راغی: څوك دی؟ ځواب ورکړ شو د خطاب زوی یدی وخت کښی محمد(ص) له ځینو ملگرو لکه حمزه(رض)، ابوبکر(رض)، بلال(رض)، علی (رض) او نورو صحابه وو کرامو (رض) سره ناست ؤ. بلال عرض وکړ دخدای(ج) رسوله د خطاب زوی عمر په دروازه کښی ولاړ دی، که دروازه ورته بیرته کړم ویره ده چه څه خفگان پیدا نکړی.

رسول الله (ص) وفرمائیل: پریږده چه راشی کیدای شی په ښه نیت راغلی وی حمزه (رض) وویل که په بد نیت راغلی وي د هغه وژل د کیڼ لاس لوبه ده، بلال(رض) دروازه پرانستله حمزه (رض) هم ورسره ولاړ دی چه عمر حمله وکړی نو د بلال مرسته به وکړی. دروازه ئی بیرته کړه عمر (رض) را ننوت حمزه (رض) له یوه لاس او بلال(رض) له بل لاس کلك ونیوه د رسول الله (ص) سترگی پری ولگیدی، دعائی وکړه، وخدایه د عمر په زړه کښی که خیری وی هغه لیری کړه او سینه ئی د ایمان په نور روښانه کړه» حمزه د عمر لاس خوشی کړه، بلاله! ته ئی هم خوشی کړه، دواړو د هغه لاسونه خوشی کړل، د حضور اقدس (ص) مخی ته چه راوړاندی شو نو ئی ورته وفرمایل، عمره! تر څو پوری چه کوم دردناك عذاب دربااندی را نشی خپل روش نه پریږدی! ووایه، په څه اراده راغلی ئی؟ عرض ئی وکړ راغلی یم چه ایمان راوړم ددی وینا په اوریدلو سره مسلمانان پداسی لوړ غږ د الله اکبر الله اکبر نعری پورته کړی چه د مکی په غرونو کښی ئی زمزمی تاؤ را تاؤ شوی په ټوله فضاء باندی یو دهشت او عظمت خور شو.

بیا رسول الله (ص) د هغه په سینه لاس کیښود او دعائی وکړه:

(خدایه(ج) عمر ته هدایت وکړه، خدایه عمر په اسلام باندی ثابت قدم لره).

غـــزل

(مولانا بلخی)

اگر خواهی مرا مَی در هوا کن
وگر سیری زمن، رفتم، رها کن
بده مَی، گر ننوشم، بر سرم ریز
وگر نیکو نه گفتم ما جرا کن
من از قندم، مرا گوی: «ترش شو!»
تو ماشی را بگیر و لوبیا کن
مرا چون نی در آوردی به ناله
چو چنگم خوش بساز و بانوا کن
اگر چه میزنی سیلیم چون دف
که «آوازی خوش داری صدا کن»
چو دف تسلیم کردم روی خود را
بزن سیلی و رویم را قفا کن
همی زاید ز دف و کف یك آواز
اگر یك نیست از هم شان جدا کن
حریف آن لبی، ای نی، شب و روز
یکی بوسه پی ما اقتضا کن
تو بوسه بادِه ای وحمله خواری
نگیری پند اگر گویم: «سخا کن»
بشدی ای نیشکر زفسون آن لب
زی لب ای نیشکر رو شُکر ها کن
نیشکر است این نوای خوش که داري؟
نوای شُکرَ ین داري ادا کن

د ادب ملغلری

دزړه آواز

(ملا گوهری)

ای دلورو غرونو بازه
دمؤمن ولس پیشتازه
له جذبونه دی لوگی شم
ای زما دزړه همرازه
لالهانده زړه دی ځار شم
د اسلام د دین سربازه
تاچی فیل ته غیږه ورکړه
نوی باب دی کړو آغازه
د نړی مظلومان واړه
په میړانه ستاکړی نازه
پیلامه د ستړیاځون یی
په همزولو کښی ممتازه
ستر طاغوت دی په گونډو کړ
بی سرلوړی سر فرازه
د نیابست ساری دی نشته
د محمود ښکلی آیازه
په غلیم سرلوری اوسی
د (گوهر) دزړه آوازه

که زه شهید شوم موری

(حنیفی)

که زه شهید شوم موری ته به ژړا نه کوی
ته به په چیغو چیغو شور واویلا نه کوی
د خدای په امر ځمه د جنگ ډگرته موری
په شهادت به زما کړیکی غوغانه کوی
ستا په ژړلو باندی خدای(ج) خپه کیږی موری
زما د شهیدو وینو اجر سلبیږی موری
د ژړیدلو پر ځای راته دعاوی کوه
په تحمل او صبر رب خوشالیږي موری
قربانومه وینه لکه حمزه په ډگر
خورمه گولی د دښمن د زړه پر سر او ځیگر
چی راته ؤ نه ژاړی راته غمجنه نشی
که شم غلبیل غلبیل شمه پرهر پرهر
زما درگونو وینه را گرمه شوی موری
دا گرمه شوی وینه می خوتیدلی موری
بایه شهید شم په دین بایه بری زما وی
زما د تنکوتو کاسه را خوځیدلی موری
تا پښتنه غیره کښی په تنگ روزلی یم
تا د تنکوتو په ټال کښی زنگولی یم
تابه په مینه مینه راته دښمن ښودلو
تابه پتیال کهول کښی غښتلی کړی یم
زه حماسی جوړوم زه زلزلی جوړوم
زه به دښمن ته موری نن هدیری جوړوم
زه د ایمان په توره مجهز شوی یم
زه سره اوروته ورمه زه هنگامی جوړوم
که زه شهید شوم موری پسا ویرونه مه کړه
زړگی ته داڼ ورکوه خوشی غمونه مه کړه
د «حنیفی» په وینا باندی عمل وکوه
زما د قبر خوا کښی ویرماتمونه مه کړه

دحرکت انقلاب ...

کی د هیواد یو شمیر جید علماء کرام چه تعدادیی یونیم زر کسانو ته رسیده رایوځای شول او محترم ملا محمد عمر (مجاهد) یی د امیرالمؤمنین په صفت تعیین کړ تاسی د شریعت او سیاست اوز د اوسنیو اوضاعو په تناسب دغه ټاکنه څرنگه بولئ لطفاً دلوستونکیو له پاره توضیحات ورکړئ.

ځواب:

زه چه له یوی خوا د ملامحمد عمر او ورسره دینی طالبانو دغه اسلامی تحریك ته گورم او عقیده لرم چه ډیر پاك سوچه خالصاً لله دی د هغو فجائعو فواحشو او جنایاتو او مظالمو په مقابل کی را پاڅیدلی دی چه دا تقریباً پنځه کاله په افغانستان کی روان دی او افغانستان یی تباه اسلام یی بدنام او جهاد یی برباد کړی دی، اوله بلی خوا دی ته گورم چه دملامحمد عمر (مجاهد) د امیر المؤمنین په صفت تعینول د هیواد د دینی علماؤ دیوی داسی جمع غفیری له خوا صورت نیولی دی چه دغسی اجتماع به په تاریخ کی مثال کم ولری او دینی علماً اصلی اهل حل او عقد دی او رسول اکرم(صلی الله علیه وسلم) د فرمودی مطابق امت محمدی(ص) خصوصاً اهل حل اوعقد په ضلال او خطأ نه سره جمع کیږی نو په دغه اساس زه قاطعانه وایم چه دغه تعینول ډیر په ځای دی او د شریعت له نقطه نظره بیخی صحیح دی او دسیاست او اوسنیو اوضاعو په نسبت بالکل معقول کار دی.

پوښتنه: محترم امیر صاحبا د طالبانو د اسلامی تحریك تر ولقی لاندی ولایتونوکی د شریعت قوانین او حکومت کولو چاری څرنگه بولئ.

ځواب: د طالبانو د اسلامی تحریك تر تسلط لاندی ولایتونوکی د شریعت قوانین او حکومت کولو چاری ډیری په زړه پوری دی او د نوموړیو ولایتونو مسلمانان تر او سږځی زاړه او واړه ډیر خوشحاله او زیات رضامند دی. سره له دی چه شرائط نامساعد، حالات نامناسب او اوضاع ناملائمه ده خوله دی سره سره په دغو ولایاتوکی شرعی قوانین په زیاته اندازه سره مرعی الاجراء دی، حکومتی چاری په داسی سالم او معقول شکل سره روانی دی چه په تیرو مسلطو حکومتونوکی په یی مثال کم تیر شوی وی نظم او اداره په داسی طور سره ساله ده چه سیاست مداران ورته حیران دی امن او امان آرامی او قراری په داسی اندازه موجوده ده چه تصوریی نشوای کیدای.

(که متعصب یی نه منی نه به یی منی دی او خپل وجدان)

> هنر به چشم تعصب بزرگ تر عیبیست
> گلست سعدی و در چشم دشمنان خار است

پوښتنه:

ډیر ښه محترم امیر صاحبا که په پای کی طالبانو ته کوم پیغام لرئ مهربانی وکړئ؟

ځواب:

محترمو طالبانو ته می خیر خواهانه پیغام دادی چه لکه څرنگه چه دوی په پاك نیت او صالح عمل سره خاص د خدای د دین په خاطر او د مظلوم مسلمان ملت د نجات په منظور دغه اسلامی تحریك راوپیڅاوه نو ددغه پاك نیت او صالح عمل په برکت سره خدای(ج) او د خدای مخلوق له دوی سره یی ساری مددگاری او همکاری وکړه او دخدای پاك د دی قول مضمون چه (یاایها النبی حسبك الله و من اتبعك من المؤمنین) تطبیق شو.

دخدای پاك مددگاری له طالبانو سره داوه چه دوی ئی په تش لاس نیت او پراگنده حالت او یی وزلی یی وسیلی ورځ په هغو دجالی قوتونو او فرعونی شخصیتونو باندی غالب او فاتح کړل چه له خدای سره یی مقابلی اخیستی وی او دخدای په دین باندی یی ملنډی وهلی او دغه فاسد عناصریی په کمه موده کی داسی نیست او نابود کړل چه عالم ورته حیران شو، دا صرف دالله نصرت او د الله د قدرت معجزه وه.

د مخلوق همکاری داوه چه د افغانستان مسلمان ملت په اساس د خپلی پاکی مسلمانی او دهغی نیکی اسلامی عقیدی چه خپلو دینی اهل علموته یی لری دطالبانو تحریك ښه استقبال کړ او چه هر ولایت ته ورسیده دهغه ولایت مسلمانانو په کمال اخلاص سره غیږ ورته خلاصه کړه په جار او قربان یی دوی ومنل او په رضاء او رغبت یی خپلی اسلحی ورته تسلیم کړی.

نو بناءً طالبانو کرامو ته دالازمه ده چه دوی د خدای پاك او د مسلمان ملت شکریه په ځای کړی دخدای(ج) شکریه په پاك نیت او صالح عمل سره په ځای کیږی نو لکه څرنگه چه د طالبانو تحریك ابتداً په پاك نیت او صالح عمل سره مابین ته راغلی دی طالبان دی کوښش وکړی چه خپل نیت او عمل همغسی پاك او صالح وساتی او د الله تعالی شکریه په ځای کړی نو دوی به له خدای سره وی. او خدای به له دوی سره وی (من کان لله کان الله له) نود الله تعالی معاونت او نصرت به د دوی شامل حال وی.

دمخلوق شکریه په حسن معامله او نیکه معاشره سره په ځای کیږی نو طالبان کرام باید له مسلمانانو سره ښه گذاره او نیکه معامله وکړی په مسلمانانوباندی ترحم او شفقت وکړی دغږیه په حق کی له نیکو اخلاقو عطوفت و رأفت څخه کار واخلی نو د مسلمانانو شکریه به په ځای شی او د مؤمنینو اتباع به تر لاسه شی.

د دی ټولو نتیجه به کامیابی د دارینو وی او که خدای نا خواسته په نیتونوکی خلل پیدا شی یعنی حب د جاه او ریاست چوکی او قدرت مال او ثروت شان او شوکت نشان او شهرت غلبه وکړه او په اعمالو کی فساد موجود شو یعنی فسق او فجور فحشا او منکر ظلم او ستم غدر او خیانت او داسی نور منکرات مابین ته راغله نو د الله تعالی د دوستی رابطه به قطع شی او نتیجه به یی خسران د دارینو وی، نو طالبان چه څرنگه پاك را پاڅیدلی الله تعالی دیْهمغسی پاك وساتی. (ربنا لا تزغ قلوبنا بعد ازهدیتنا و هب لنا من لدنك رحمة انك لاتخلف المیعاد) و آخر دعوانا ان الحمد لله رب العالمین.

خدمات دینی و اجتماعی علماء...

پذیرفت...). بعد از این پیش امد تلگرام از ایتالیا برای عبدالحمید از کراسو یهودی رسید که در آن آمده بود (در مقابل این بر خورد سر و خلافت را از دست خواهی داد).

هرتزل در یاداشتهای خود مینویسد: عبدالحمید برایم گفت: (بهتر است پارچه گوشت از بدنم جدا شود نه اینکه پارچه، از سرزمین فلسطین...) عبدالحمید افزود: هرتزل پولت را نگاهدار هر وقت عبدالحمید رفت فلسطین را رایگان خواهی یافت.

توطئه های مشترك ماسونیزم جهانی، تبشیر و یهودیت بشدت غرض سقوط خلافت دست در کار بودند بالاخره به اثر توطئه ماسونیها و یهودیت، سلطان عبدالحمید مرد صالح از قدرت افتید و اداره ترکیه بدست (ترکان جوان اتحاد و ترقی افتاد) این سازمان بازیچه و آله، دست ماسونیت بود ملی گرائی ترکیه که حزب اتحاد و ترقی علم بردار آن شناخته میشد از طرف آنها اداره و مراقبت میگردید.

بخش اعظم فارغان اکادمی های نظامی بی دینی وقتیکه از تحصیلات فارغ شدند به وطن بازگشتند. به اندیشه و مفکوره، غرب پرستی و ملی گرائی مجهز شده بودند. مفاهیم و اهداف ملی گرائی از ملی گرائی آلمان نازی و از یهود الهام گرفته بود بناء بر آن مهاجرت های یهود ها پی هم جانب فلسطین شروع شد.

خلافت نهایت ضعیف شده بود و بازیچه، دست سازمان اتحاد و ترقی گردیده بود. نتایج جلسات ماسونیت کنفرانس بال مانند آتش تر و خشك را بکام خود فرو میبرد، و دستهای یهود ترکیه را از هر طرف پیچیده بود تا بتوانند به سر زمین موعود - فلسطین- برسند. بعد از جنگ دوم جهانی کشور های بزرگ اروپا وارث مرد مریض (اطلاق مرد مریض برترکیه میشد) شناخته شدند و اروپایکه از ترس خلافت اسلامی خواب راحت نداشت به واسطه خیانتهای پی در پی سازمان اتحاد و ترقی و غرب پرستان ترك دیگر تسکین خاطر پیدا کرد و روحش آرام گرفت.

مصطفی کمال با مانور های عجیب و غریب یهودیها و اروپایان به صحنه، نظامی و سیاسی کشور گشاینده شد و باید یادآور شد که رابطه و دوستی کمال با انگلیس از ماسونیزم یهود کرده کم نبود.

اروپیها وی را با مشابه یك سپر در برابر اسلام قرار دادند و در اسقاط کلی خلافت اسلامی استعمالش نمودند.

برای این منظور کشور های بزرگ با مصطفی کمال تماس عملی گرفتند و در معاهده، لوزان ۱۹۲۲م که نماینده، مصطفی عصمت انیونو بود کرزون- وزیر خارجه برتانیه، در آن زمان این چهار شرط را گذاشت:

۱- از میان برداشتن خلافت عثمانی
۲- ختثی ساختن هر تلاش که برای احیاء خلافت صورت گیرد.
۳- مبارزه با شعایر اسلامی.
٤- عمل کردن و تنفید قانون غرب در زنده گی مردم در بدل شریعت اسلامی.

مصطفی این شروط ذلت بار و غیر اسلامی را پذیرفت بعد از کسب اطمینان که از طرف اتاترك به آنها گفته شد: (بعد از اینکه ما ترکیه را از لباس اسلام و خلافت تجرید کردیم و دیگر بقا و بازگشتی ندارد). نیرو های خود را از ترکیه برون کردند.

مصطفی کمال برای تطبیق معاهده بسیار دلچسپی داشت زیرا در آغوش مجمع ماسونی یهودی در سالونیك تربیه دیده بود، بسیاری از مردم ترکیه در حسب و نسب او شك و تردید دارند و نسب او را با یهود ارتباط میدهند. در بدؤ امر مصطفی رنگ یك روحانی مذهبی به خود گرفت که در عید لباس علماء را پوشیده و تسبیح بزرگی را بدست گرفت و مردم را به اداي مراسم دینی توصیه میکرد.

علماء را به گرد خود جمع میکرد و از طریق خدعه و فریب میخواست که علماء را بزعم خود فریب دهد و به آنها پیشنهاد کرد که: میخواهد دین را از سیاست و دولت مانند کلیسا جدا کند که علماء این برنامه را مردود شماریدند بناءً بر آن مصطفی بسر خشم امد و تعدادی زیادی از علماء، و مشایخ را اعدام کرد.

و در سال ۱۹۲٤م الغاء خلافت را اعلان کرد مبارزه بر ضد دین علناً در ترکیه آغاز شد آذان بزبان عربی منع شد، پوشیدن لباس اسلامی منع شد.

پولیس در جاده ها لباسهای زنانرا پاره کردند و گذاشتن چادر را بر سر زنان منع نمود، و پوشیدن کلاه رومی را منع کرد زیرا عربها آنرا می پوشیدند، خواندن قرآن را بزبان عربی منع کرد، مسجد آی صوفیه را به موزیم تبدیل کرد، خواندن قرآن در مساجد جرم و مستوجب مجازات قانونی پنداشته شد.

محاکم شرعی همه ملغی اعلان شد همه شعایر الله و احکام دین ممنوع گردید، به هزار ها تن علماء، مشایخ و متدینین به اعدام سوق شدند و زندانها از مسلمانها پر گردید.

این غلام حلقه بگوش انگلیس قبل از در گذشت خود سفیر انگلیس- لورین- را خواست و توصیه پذیرفتن ریاست جمهوری ترکیه را برایش نمود که از طرف سفیر رد گردید.

او راقی در میان بوده که از جریده، برتانیه گرفته شده که جریده این سر را بعد از سی سال در گذشت اتاترك افشاء نموده است. زیرا قانون اساسی ترکیه برای اتاترك اجازه میداد که هر کس را بخواهد بعد از مرگ خود به ریاست جمهوری تعیین نماید. مصطفی در سال ۱۹۳۸م در گذشت و در قانون اساسی ترکیه ۱۹ ماده دشمنی با اسلام را بعد از خود به جای گذاشت. تجربه کمال و پیروانش توسط غرب و یهودیت بسیار مؤفقانه بود که علیه اسلام عملی میشد.

شمه، از اجنبی بودن و ضد اسلامی بودن حزب اتحاد و ترقی و جنبشهای فکری غرب و اتاترك را خاطر نشان ساختیم. که مشروطیت ثانی افغانی و شخصیت محوری و رهبری کننده، ان محمود طرزی از آن الهام گرفته و آن برنامه را در افغانستان میخواستند پیاده نمایند که چگونگی آنرا در بحثهای آینده به عرض خواهیم رسانید ■

راغلی لیکونه

د شریعت اونیزی جریدی مدیر مولوی احمد جان صاحب!

السلام علیکم و رحمة الله و بعد!

محترما! ستاسو له دغه فرهنگی خدمت څخه ډیره ډیره مننه او خوشحالی څرگندوو، کامیابی او لا پرمختگ مو له لوی خدای(ج) څخه همیشه غواړو.

د شریعت اونیزه نه یوازی د مظلومو طالبانو خدمتگاره ده، د هغوی د خدمت اهداف خلکوته رسوی بلکی د خوارلس کلن جهاد په اوبولاهو شوی ثمره مو هم وژغورله او نړیوالوته مو دا وښودله چی په افغانستان کی داسی قوتونه هم شته چی د خپلی گټی او دنورو د گټی تشخیص کولای شی. لوی خدای(ج) مو بریالی لره. خو له تاسو څخه زمونږ هیله داده چی که خپله دغه اوونیزه ورځپانه او یا لږ تر لږه په اوونی کی دری ځلی چاپ کړئ د خلکو تنده به ماته شی، مایو شعر هم در واستاوه که د چاپ وړ وی خوښ به شم.

په درناوی

ستاسو وروړ نیك محمد نیکمل زابلی.

***

گرانه وروره نیك محمد نیکمل زابلی صاحب! زمونږ سلامونه او نیکی هیلی هم ومنه، د اوونیزی په اړه ستاسو د نیکو احساساتو مننه کوو په ورځپانه او یا په اونۍ کی د دری ځله چاپ په اړه به ستاسو پیشنهاد تر غور لاندی ونیسو که امکانات ور انشاء الله ستاسو پیشنهاد به و منل شی، خو د شعر له چاپ څخه ځکه معذرت غواړو چی یو لږ زیاتی ادبی نیمگړتیاوی لری هیله ده چی خپل غوره او ښکلی اشعار به راولیږئ.

په مینه

(اداره)

***

زمونږ ځوابونه

د شریعت اوونیزی درندو کار کوونکو السلام عیلکم و رحمة الله!

خدای (ج) مو روغ، جوړ او په خپلو عالی اهدافوکی بریالی لره ستاسو اوونیزه جریده همیشه لولم او نور هم زیات لوستونکی لری، ځکه چی دلوستلو وړ معلوماتی مضامین لری، زه یوه لنډی او د علیخان یو شعر درلیږم هیله ده چی چاپ یی کړئ.

په درناوی

ستاسو وروړ محمد زاهد زاهدی د صوابی له یره کی کمپ څخه.

***

گرانه وروره محمد زاهد زاهدی صاحب مور هم خپل سلامونه درته وایو، ستاسو له نیکو احساساتو څخه مننه کوو، کوم شعر چی تاسو رالیږلی و په تیره گنه کی مو چاپ کړ او دادی ستاسو لنډی له دغه لیك سره یو ځای چاپوو او هغه داچی:

> «بابه گولی په سینه وخورم
> بابه دا سپین بیرغ په لاس کابل ته ځمه»

***

د شریعت اوونیزی درنو کارکوونکو ښی هیلي دوعاگانی او سلامونه.

دایو روښانه حقیقت دی چی د شریعت اوونیزه د دردیدلو، کړیدلو افغانانو تنده ماتوی. له لوی خدای(ج) څخه درته د لا بریالیتوبونو دعاکوو.

محمد آجان (مجنون)له باغبانانو څخه.

***

محمدآجانه وروره سلامونوته دی وعلیکم السلام وایو او دشریعت د اوونیزی د ستایلو په هکله درته کور ودانی وایو ستا دنورو لیکونو د رالیگلو په هیله.

(اداره)

له ربانی څخه په کلکه غواړو چی نور دی له قدرت څخه لاس واخلی
(مولوی محمد یونس خالص)

افغانانو ددی لپاره جهاد وکړ چی په هیواد کی اسلامی نظام حاکم شی
(پیر سید احمد ګیلانی)

د ربانی تش په نامه حکومت د افغانستان د تباهی او بربادی لامل دی
(مولوی محمد نبی محمدی)

د طالبانو اسلامی تحریک په نیمایی افغانستان کی اسلامی نظام حاکم کړی دی
(حضرت احمد امین جان مجددی)

له کندهار څخه زموږ خبریال خبر راکوی چی د ۱۳۷۵ کال د جوزا په شپاړسمه نیټه د اسلامی تحریک د مجاهدینو او دریو جهادي رهبرانو تر منځ چی د خانقاه عالیه نقشبندیه جانشین حضرت احمد امین جان مجددی هم پکی برخه درلوده خبری اتری وشوی.

په دی خبرو اترو کی د عظیم الشأن قرآن د څو مبارکو آیتونو تر تلاوت وروسته محترم ملا محمد ربانی وویل: هغه کسان چی په افغانستان کی یی جهاد وکړ، روس یی مات کړ ستاسو د جهادی مشرانو د اخلاص، ښه چلند او جهاد برکت و، خو د څه لپاره چی موږ امید درلود هغه د جهاد ثمره وه، چی د قدرت غوښتونکو له خوا ولوټل شوه او دیوه سوچه اسلامی او ملی نظام پر ځای په هیواد کی د شخصی قدرت لپاره جګړی او ډغری پیل شوی.

ده وویل: طالبان غواړی چی زموږ د شپاړس لکو شهیدانو وینی بی ځایه ولاړی نه شی نو ځکه یی پاڅون وکړ او تصمیم لری چی خپل دغه پاڅون په دیرپالیتوب ترسرحده رسوی. د ملا محمد ربانی د خبرو په تعقیب د حرکت اسلامی افغانستان امیر محترم مولوی محمد نبی (محمدی) د خپلو اوږدو او هر اړخیزو خبرو په جریان کی وویل: موږ یقین لرو چی د طالبانو اسلامی تحریک پر حق تحریک دی.

ده وویل: د ربانی تش په نامه حکومت د افغانستان د تباهی او بربادی اصلی لامل دی ځکه نه کوم شرعی، نه ملی او نه قانونی حیثیت لری، ټول هیوادوال د ربانی له ناروا غاصبانه قدرت څخه بیزاره دی او ملت غواړی چی ربانی دی نور له قدرت څخه لاس واخلی او افغانستان دی پرېږدی چی خپل سرنوشت پخپله وټاکی.

د اسلامی حزب امیر محترم مولوی محمد یونس (خالص) د محترم (محمدی) د خبرو په تعقیب وویل: زه د محترم مولوی محمدی صاحب خبری تائیدوم او له ربانی څخه په کلکه غواړم چی نور دی له قدرت څخه لاس واخلی او هغه چاته دی وسپاری چی اهل یی وی او هیوادته واقعاً اسلامی نظام راوستلای شی.

د مولوی محمد یونس (خالص) تر خبرو وروسته د افغانستان د ملی اسلامی محاذ مشر محترم پیر سید احمد ګیلانی د خپلو چاپ شویو خبرو په ترځ کی وویل: رښتیا هم د افغانستان کشاله تر هغه پوری په قطعی ډول نه شی حل کیدای تر څو پوری چی ربانی لیری شوی نه وی، افغانانو ددی لپاره جهاد وکړ چی په هیواد کی اسلامی نظام حاکم شی، خوله بده مرغه دښمن هغه څوک را مخی ته کړل او قدرت ته یی ورسول چی دوی روزلی وو او په دی توګه اصلی مجاهدین یی برخی پاتی شول، هغو خلکو چی د قدرت لپاره یی ملی ځلی کولی اوس یی ټول هیواد کنډو کپر او په کنډواله بدل کړ.

د پیر سیداحمد ګیلانی له وینا وروسته حضرت احمد امین جان مجددی وویل: اصلی جهادی رهبرانو د قدر وړخدمتونه وکړل، هیواد آزاد شو، خو د مسلمان ملت هیلی تر سره نه شوی د قدرت غوښتنی جګړی پیل شوی، افغانستان یی په کنډواله بدل کړ، اوس چی د طالبانو اسلامی تحریک پیل شوی او په نیمایی هیواد کی یی اسلامی نظام حاکم کړی دی نو موږ یی په بشپړه توګه تائیدوو او دلوی خدای(ج) له دربار څخه دیوه خپلواک، اسلامی مترقی افغانستان د جوړیدو غوښتنه کوو.

خبریال زیاتوی چی ددی غونډی په پای کښی یو پریکړه لیک صادر شو چی د ټولو مشرانو له خوا لاسلیک او په لاندی ډول د هیوادوالو د خبرتیا لپاره وړاندی کیږی.

بسم الله الرحمن الرحیم

د جوزا په شپاړسم کال ۱۳۷۵ د کندهار په اشرف البلاد تاریخی ښار کی یوه مهمه غونډه جوړه شوه چه په هغی کښی د جهادی رهبرانو څخه دری شخصیتونه هر یو محترم پیر صاحب سیداحمد ګیلانی، محترم مولوی محمد یونس خالص او مولوي محمد نبی محمدی شامل او د طالبانو کرامو د اسلامی تحریک له طرفه محترم امیر ملامحمد عمر صاحب او د هغه معاون محترم ملا محمد ربانی صاحب او د کندهار والی محترم مولوی محمد حسن صاحب او د اسلامی تحریک د عالي شوری محترم غړی پکښی شمول درلود او محترم مجددی صاحب احمد امین جان آغا هم په جلسه کښی شامل و په توموړی غونډه کښی د افغانستان د مشکل د حل او دغمجنی کشالی دلری کولو په متعلق مفصلی مذاکری وشوی په پای د مجلس کښی د ټولو اعضاء و د مجلس لخوا په مشترك طور سره قاطعانه تصمیم ونیول شو او متفقه فیصله وکړه شوه چه د افغانستان د معضلی او مشکلاتو اساسی عامل د استاد ربانی غیر شرعی تشبث دی په چوکی،د قدرت باندی او حل یی فقط د استاد ربانی لری کیدل دی له چوکی،د اقتدار څخه توموړ متفقاً دا فیصله وکړه چه نور د استاد ربانی بقا پر اقتدار باندی قطعاً نه شومنلای او له ده څخه جداً خواهش کوو چه دی د خدای نه توجه او رجوع وکړی او په مسلمان مظلوم ملت باندی دی ترحم وکړی او علی الفور دی حکومت څخه لاس په سر او د قدرت انتقال ته دی حاضر شي و من الله التوفیق.

خوارلس کلن جهاد ...

زموږ خبریال زیاتوی په دی پسی محترم مولوی عبدالعلی(دیوبندی) په خپله عالمانه وینا کی وویل:

له کوم وخت نه چی پاک خدای(ج) دنیا پیدا کړی د حق او باطل معرکه روانه ده، د طالبانو جګړه پر حقه جګړه ده دا ځکه د کابل په څنګه اوس هم فسق او فساد اوج ته رسیدلی او هر ډول غیر شرعی عملونه پکی تر سره کیږی.

د مولوی (دیوبندی) تر وینا وروسته محترم حضرت احمد امین جان (مجددی) پخپله اوږده وینا کی وویل:

دښمن کوښښ کوی چی زموږ د خلکو تر منځ د پښتو، فارسی، ازبکی او هزاره خبره را منځ ته کړی تر څو په دی وسیله خپل ناوړه اغراض تر سره کړی، خوله نیکه مرغه طالبانو وکړای شول چی د دښمن ټول پلانونه شنډ او دسیسی یی خنثی کړی.

خبریال زیاتوی چی په غونډه کی د اسلامی حزب امیر محترم مولوی محمد یونس (خالص) هم خپله عالمانه وینا واوروله وی ویل:

اسلامی حکومت جوړول او د خدای (ج) په ځمکه د خدای(ج) حکم جاری کول دهر مسلمان اسلامی دنده ده، موږ ته پکار دی چی د اسلامی حکومت د جوړولو لپاره خپل ټول امکانات په کار واچوو تر څو خپل مسؤلیت تر سره او ټولنه ارامه شی.

د مولوی (خالص) تر وینا وروسته د کندهار والی او دعالی شوری سرپرست ملا محمد حسن اخند په خپله اوږده وینا کی په غونډه کی دګډون په هکله د جهادی مشرانو له ګډون څخه خوښی ښکاره کړه وی ویل: دا دلوی خدای(ج) فضل دی چی نن موږ د خپل څوارلس کلن جهاد مشرانو له نږدی څخه ګورو زموږ د حال پوښتنه کوی او موږ ته نیکی مشوری را کوی.

خبریال زیاتوی چی د ملامحمد حسن اخند تر وینا وروسته د افغانستان د ملی اسلامی محاذ مشر محترم پیر سیداحمد ګیلانی د غونډی برخه والوته پخپله اوږده او عالمانه وینا کی وویل:

موږ د کفر او کمونیزم په مقابل کی څوارلس کاله جهاد ددی لپاره وکړ چی په افغانستان کی یو مستحکم اسلامی حکومت جوړ شی، خو له بده مرغه داسی و نه شول، زموږ د جهاد د سنګرونو ملګری چی کله قدرت ته ورسیدل بل چاته یی حق ورنه کړ، نو ترنن ورځی پوری داسی حکومت منځ ته رانغی دکوم لپاره چی موږ قربانی ورکړی وی، د افغانستان مظلوم ملت د هر ډول نظامونو تحمل نه شی کولای، نو زما نظر دادی چی د افغانستان ټول ملت باید د داسی نظام پر ضد قیام وکړی.

بیا ملا محمد اسحق (نظامی) پر جناب شعر ولوست چی د غونډی برخه وال یی په جوش راوستل او ده تر شعر ویلو وروسته د حرکت انقلاب اسلامی افغانستان امیر محترم مولوی محمد نبی (محمدی) پخپله عالمانه اوږده وینا کی د غونډی برخه والوته وویل:

د افغانستان څوارلس کلن جهاد په دی خاطر پیل او پای ته ورسید چی په هیواد کی د ملت ارزو تر سره او اسلامی حکومت جوړ شی، خو داسی و نه شول، کله چی قدرت د مجاهدینو لاس ته ورغی نو خپل منځی اختلافات او د ورور وژنی جګړو خبره دی حد ته ورسوله چی زموږ ښکلی جهاد بدنام او په هیواد کی د چور او چپاول خپره فضا را منځ ته شوه، د عیاشی او فحاشی پاټکونه واچول شول، لواطت او زنا اوج ته ورسیدل او د اسلام سپیڅلی لار ښودل شوه، خوله نیکه مرغه کله چی طالبانو اسلامی تحریک رامنځ ته شو د خپل نیک نیت او قوی ارادی له مخی د پاک خدای (ج) په مرسته په دی وتوانید چی د هیواد اکثره برخه له شر او فتنی څخه خلاصه او پر ځای یی د شریعت امن راولی، نو زموږ هیله داده چی له دی لاری به په هیواد کی بشپړ امنیت تأمین او شریعت نافذ شی.

د مولوی محمد نبی (محمدی) تر وینا وروسته ملا امیرخان (متقی) د مذاکراتو او غونډو پریکړه لیک ولوست او غونډه د مولوی عبدالعلی (دیوبندی) په دوعایی سره د ماښام په اوویجو او پنځلسو دقیقو پای ته ورسیده.

قونسلهای محترم ...

مجاهدین تحریک طالبان، مسلح دستگیر شده بودند به حاضرین در حالی پیش کرده شدند که با سلاحهای ساخت ایران مسلح بودند که دو نفر از اسیران اسامی احمدشاه و غلام سخی به نمایندگی از سایر اسراء اعتراف داشته گفتند که:

مقامات ایرانی ما را در کمپهای مخصوص نظامی که غرض تربیه عناصر ضد تحریک اسلامی طالبان در داخل ایران تأسیس گردیده است تربیه نظامی داده و بعد از آن ما را مسلح ساخته غرض تخریب کاری و عملیات مسلحانه علیه تحریک اسلامی طالبان به ولسوالی غوریان فرستادند که تعدادی از ما در نتیجه، برخورد از طرف طالبان کشته شدند و تعداد زیادی ما با اسلحه، دست داشته که ساخت ایران بود بدست طالبان اسیر شدیم.

قابل تذکر است در برخوردی که بتاریخ ۹ جوزا با گروه متذکره رخ داد ۱۶ تن از آنها کشته و ۷۵ نفر آنها با اسلحه، دست داشته خود به اسارت مجاهدین تحریک طالبان در آمدند. و در این عملیات پیروزمندانه دو عراده موتر حامل اسلحه و مهمات و ۱۰ رأس اسپ که اسلحه و مهمات حمل میکردند به غنیمت طالبان در آمد که اسلحه و مهمات همه ساخت ایران میباشد.

در اخیر والی هرات محترم الحاج ملایارمحمد مهمانان و مشترکین این اجتماع بزرگ را خوش آمدید گفته افزودند که: ممالك و دول دوست و برادر اسلامی باید به خاطر اسلام و خیر اطراف ذی دخل با افغانها کمك نمایند نه براي اهداف به خصوص خود که با روحیه اخوت اسلامی، آداب همسایگی و حسن همجواری و ایجابات بین المللی مخالف باشد در حالیکه در سفر اخیر ما به ایران حکومت ایران وعده سپردند که در امور داخلی ما مداخله نکنند که متأسفانه بوعده وفا نکردند امید واریم که به خاطر اسلام و منافع امت اسلامی ایران در آینده از چنین اعمال غیر مطلوب دست بکشند.

اصلاً زمونږ په اصطلاح توپکیان ...

ځواب: تاسوته معلومه ده کله چی دوی ائتلاف وکړ دوی د خپل ائتلاف په غرور سره د طالبانو اسلامی تحریک پر خلاف خپل عملیات شروع کړل خپل زور ئی وازمایه کله چه له شکست سره مخامخ شول نو وروسته دوی داخبری شروع کړی چه موږ دوی سره مذاکرات کوو زه فکر کوم چی دوی له موقع نه استفاده کوی او عمده حملي ته ځان تیار وی دوی همیشه چه د مذاکراتو خبره کړیده جنګی عملیات ئی شروع کړیدی تر اوسه پوری څو دوی په خپلو وعدو باندی وفا نده کړی او په خپلو وعدوباندی ثابت ندی پاتی شوی نو په همدی وجه په دوی اعتماد نشی کیدی دا چی په آینده کی به څنګه عمل ورسره کیږی دا زمونږ د آینده عالی شورا په فیصلی پوری اړه لری چی ایا د دوی هیئت ځان ته منی او که نه؟

پوښتنه: متقی صاحب دا راته ووایی چی ستاسو ائتلاف حزب وحدت سره کوم ځای ته رسیدلی دی؟

ځواب: حقیقت دادی چه تر اوسه پوری موږ د هیچا سره ائتلاف ندی کړی حزب وحدت موږ ته وعدی راکړی دی چی هغوی به خپلو سیمو کی اوسی او د طالبانو د اسلامی تحریک مجاهدینو په مخکی به کوم خنډ نه جوړوی او ددوی لاری به آزاد وی په افغانستان کښی به د اسلامی حکومت په جوړولو کی د طالبانو له اسلامی تحریک سره مرسته کوی. موږ تر اوسه له چاسره کوم مشخصی لوظنامی او ائتلاف ندی کړی.

پوښتنه: اوس راځو دهغو جلووومشرانو بلنی ته تاسو په پخوا وختونوکی ویل چی داتوپکیان او دهغو مشران مجرمین دی اوس څنګه حاضر شوی چی د توپکیانو مشرانوته اجازه ورکوئ چی راشی له تاسو سره غونډی ته کښینی؟

ځواب: اصلاً زمونږ په اصطلاح توپکیان هغه چاته ویل کیږی چه هغوی پاټکونه اچولی هغوی د خلکو مالونه لوټول، هغوی دافغانستان (۱۴) کلن مقدس جهاد بدنامول او د افغانانو هیلی تر پښو لاندی کړی دغوته توپکیان ویل کیږی. دارهبران چه دلته راغلی دی دا یقیناً علمی شخصیتونه دی، دا جهادی شخصیتونه دی، دا نیك شخصیتونه دی، موږ د دوی قدرکوو زموږ هیئتونه څو ځلی ورغلی دی د توپکیانو کلیمه په هر چاباندی نه تطبیقیږی.

د ختکو په پله کی ...

ورځ د جوزا په ۲۰ نیټه د ختکو په پله کی د دوی کورته نږدی واخیستل شوه.

د فاتحی په دی مراسمو کی زیات شمیر مهاجرو او انصارو ګډون کړی و چی په دی جریان کی علماو کرامو هریوه مولوی نورآغا، مولوی نورمحمد (ثاقب)، مولوی محمد اسمعیل او مولوی محمد عمر، عالمانه او اوږدی ویناوی وکړی، د طالبانو له اسلامی تحریک سره غوڅ ملاتړ څرګند شو او دنوی ائتلاف په اړه خلکوته ددغه ائتلاف منفی اړخونه ښکاره شول.

شهید مولوی نظر محمد خپل دینی تعلیمات د سیمی له علماو څخه پیل او د پیښور په بیلو بیلو مدرسو او بالاخره داکوړی په حقانیه مدرسه کی یی خپل عالی تحصیلات بشپړ کړی او دیوه جید او پوه عالم په توګه یی د دین او وطن خدمت ته ملاتړلی وه، د جهاد په څوارلس کلنه موده کی یی دجهاد په تودو سنګرونو کی برخه اخیستی او خپله دینی او ملی وجیبه یی په ښه توګه سرته رسولی وه، خو کله چی روسان مات او کمونستان راوپرزیدل نو د جهاد اهداف تر خاورو لاندی کړای شول او دی هم مجبور شو چی د طالبانو د اسلامی تحریک په ژغورنده لیکو کی ودریږی.

شهید مولوی نظرمحمد په تیرو دریو کلونوکی بیاهم هغه رسالت سرته ورساوه چی زموږ د هیواد دینی عالمانو او د وطن مینانوته وریه غاړه دی، څو په پای کی د روسانو او هندوانو په هغه ګولی، و لګید چی پرون یی هم زموږ خلك پری وژل او دادی نن بیا هم زموږ د مسلمانو هیوادوالو سینی غلبیلوی، او په دی توګه د شهادت لوړ مقام ته ورسید(انا لله و انا الیه راجعون)

خبر یال زیاتوی چی دفاتحی په دی مراسمو کی په پیښور کی دطالبانو داسلامی تحریك د نمایندګی مسؤلینو اومسوبینوهم ګډون کړی و.

مولوی محمد یونس خالص هرات ته ...

هرکلی ورایه.

خبریال زیاتوی چی هرات ته له رسیدو سره جوخت محترم مولوی محمد یونس (خالص) دهغه ولایت له والی او د دایرو له رئیسانو سره په غونډه کی له هغوی سره پیژند ګلوی وکړه او د ورځنیو اجرأتو په باب یی دهغوی ګذارش واورید.

خبریال زیاتوی چی له مولوی محمد یونس(خالص) سره په دی سفر کی دغه کسان ملګری دی:

د مولوی محمد یونس(خالص) مرستیال حاجی دین محمد، نظامی آمر اختر محمد، د ترانسپورت آمر عبدالجبار او معلم صاحب.

[illegible]

په دی کتنه کی د ملګرو ملتو استازی ابو نفیسه محترم ملا محمد ربانی ته وویل: ملګری ملتونه په افغانستان کی سوله غواړی او له تاسو غوښتنه کوی چی له ربانی سره خبروته غاړه کیږدئ، موږ یقین لرو هغه ولایتونه چی د طالبانو تر کنترول لاندی دی په هغو کی امن دی، خو موږ غواړو چی ټول افغانستان له سولی څخه برخمن وی.

د ابو نفیسه د خبرو په ځواب کی ملا محمد ربانی وویل: موږ همیشه د ملګرو ملتونو د کوښښونو قدردانی کړی او کووی، خوله ربانی سره خبروته تیار ځکه نه یو چی موږ د هغوی له خوا واوړه نه یو، مور هم غواړو چی د افغانستان مسئله دی د خبرولو لاری حل شی، ملګری ملتونه که رښتیا غواړی چی په افغانستان کی دی سوله راشی نو د ربانی تش په نامه اداره دی غیر قانونی اعلان کړی، نو د افغانستان مسئله پخپله ورسره حل کیږی، ځکه د شر او فساد اصلی عامل د ربانی بدنامه اداره ده.

ده وویل: ملګری ملتونه باید د افغانانو د اکثریت پر معیار یو مرکزی حکومت منځ ته راولی، ځکه ټول ملت ربانی نه غواړی، نو تاسوئ ولی غیر رسمی نه اعلانوئ، په داسی حال کی چی ټول افغانان دیو شمیر زیاتو جهادی مشرانو په ګډون اسلامی حکومت غواړی.

د فراه ولایت د انار دری ...

مره او ځینی نوریی له ایرانی استادو سره یو ځای ژوندی ونیول شول.

په دی بریالیو عملیاتو کی د دووتنو قوماندانانو هر یو شیراحمدخان او کندل خان په ګډون اته تنه د خپلو عملونو په جزا ورسیدل او اووه تنه نوریی له وسلو سره ژوندی ونیول شول. هغه وسله چی په دی عملیاتو کی د طالبانو قوتونو ته په لاس ورغلی په دی ترتیب ده:

پنځه دیرش میله کلاشینکوف، اووه میله راکټ، یو میل وسط هاوان، څلور میله درنی ماشینګاری، دری عرادی موټر اوزیاته اندازه مهمات او خوراکی مواد. اوس په دی ولسوالی کی بلکل امنیت دی او د ولسوالی خلك خپل ورځنی ژوند ته په ډاډه زړه دوام ورکوی.

د طالبانو له اسلامي تحریک سره ...

شرمی لاهم زموږ په کورنیو چاروکی مداخله کوی او کوښښ کوی چی په افغانستان کی د اسلامی نظام د ټینګیدو مخه ونیسی.

خبریال زیاتوی چی دوی د غونډی په پای کی دغه فیصلی وکړی:

۱- مولانا عبدالسلام (حقانی) د رأیو په اتفاق د دغی حلقی د علماو او د منطقی د مفتی په توګه و ټاکل شو.

۲- د هری دوشنبی په ورځ به علماء کرام دلته را ټولیږی او علمی بحثونه کوی او دچارو دلاښه پرمختګ لپاره به مشوری کوی.

اسرائیل عربو ته بیالو په بلا جوړه شوه

د اسرائیلو نوی حکومت نوی پالیسی رامنځ ته کړی ده او د عیاشانو آرام ژوند یی ور تا کراره کړی دی، د یهودو نوی حکومت د پخوانیو اسرائیلی حکومتونو تړونونو ته منی هغه چی د هغو په اساس یی له څینو عربو سره خپله دوښمنی پای ته ورسوله ځان یی په رسمیت وربانڈی وپیژاند، په ډیرو عربی دولتونو کی یی خپل سفارتونه پرانستل او ځان یی بی غمه کړ، دا په داسی حال کی چی نه یی لاتراوسه فلسطینی دولت جوړولوته پری ایښی دی، نه یی د لبنان له خاوری نه خپل قوتونه په شا کړی دی، نه یی سوریې ته د ګولان زرخیزه غونډۍ ورخوشی کړی دی او نه د فلسطین دولت لپاره په القدس شریف کی ځای ورکوی، بلکی له هر څه نه وچ انکار کوی عربی دولتونو چی د جنګ په میدان کی د اسرائیلو په لاس ماتی وخوړله دماتی اسباب د دوی په خپل ځان کی وو، نه یی له چانه سری کم وو او نه پیسی، بلکی په عیش اموخته وو د جنګ ترخه یی زغملی نه شوای؛ له هغه وروسته بیایه سیاسی وګر کی یو خو د امریکا د خوشالولو لپاره اویل له اسانه لاری له یهودو سره دلانجی غوڅولو لپاره یی ویره ژړ، ژړ غبږ ورته خلاصه کړه مخکی له دی نه چی له هغوته څه تړلاسه کړی هغوی ته یی هرڅه ورکړل؛

ترټولو بده خبره داوه چی د غرب په خوله یی خپله توره په خپل لاس ماته کړه هغه داوه چی د خپل، خپل وطن اسلامی ولی یی د غرب او امریکا د خوښی لپاره د بنیادګرا، تخریب کار او په هغو بدونامونو سخت وځپل چی کافرانو یې په مسلمانانو باندی زدی. او لا لګیا دی پسی ځپی یی، أعداموی یی، بندیانوی یی، شړی یی، لنډه دا چی له یوی مخی نه یی ختموی، په مصر کی د مجاهدو مسلمانانو حال واخلئ، په الجزائر، تونس، مراکش، لیبیا، سوریه، عراق، غزه، الخلیل او نورو ځایونوکی، په تیره بیا د حماس ډله څو یاسرعرفات پخپله وځپله او ځپی یی اوس چی اسرائیلو خپل ځان وربانڈی پوره او دوی ته یی رد ځواب ورکړ نو یی په آخوا دی خوا منډو را منډو پیل وکړ، اوس به نو د جون په آخره کی په قاهره کی سرمشریزه غونډه کوی او په دی لارو چارو به غور کوی چی له ورځه تیری او- په څنګه راوګرزوی؟

مور وابو د جهاد لاره دعزت لاره ده لایه خوا ورته په کار وه چی د عزت دغه قرآنی لاره یی کلکه نیولی وای او ددغی لاری لپاره تیار شوی خلك یی په خپل لاس له منځه نه وای وړی او له اسلام سره یی دښمنی نه وای کړی او دعزت په دغه لاره کی یی په کار اچولی وای، نو داسی خوار او ذلیل به نه وو، اوس هم وخت پاته دی، که چیری اسرائیل په سمه لاره ولاړ نه شی، نو بیا د یهودو په هکله د قرآن مجید ټاکلی لاره دی په مخکی ونیسی چی یوازی هغه لاره د عزت او بری لاره ده نه د ذلت، زاریو، واسطو او سیاسی زیاتنو مذاکراتو لاره. والسلام

SHARIAT WEEKLY

Publisher : Islamic Movment of Taliban of Afghanistan.

Editor -in- Chief : Movlavi Ahmad Jan.

Tel : 840378

PAK - RUPE A/C, CD. No. 1694 -69.

Habib Bank LTD. Tehkal Bala Branch (Code 0267)

Peshawar, Pakistan

د ګډون بیه	شپږمیاشتنی	کالنی
پاکستان	Rs. 200	Rs. 400
د خلیج هیوادونه	SR. 150	SR. 300
اروپا او امریکا	$: 75	$: 150

از حزب اسلامی رفاه «ترکیه» غرض تشکیل حکومت دعوت بعمل آمد

ترکیه در زمان خلافت عثمانی مرکز و پایگاه بزرگترین نیروی اسلام و طاقت جهانی در عصر و زمان خود محسوب شده و خطر بزرگی را متوجه امنیت غرب صلیبی گردانیده بود و مانع شدیدی مقابل هر نوع توطئه و حرکات استعماری اروپا پنداشته میشد.

غرب صلیبی برای ویران کردن خلافت اسلامی شب و روز دست بکار شد که در این تحریك و فعالیت ضد خلافت عناصر یهودی همه همت مادی و معنوی خود را بکار انداختند، زیرا مانع بزرگی در راه رسیدن یهود به سر زمین موعود (فلسطین) خلافت عثمانی پنداشته میشد.

نقطه عطف و تحولی در تغییرات و دیگرگونیهاییکه متوجه خلافت گردید همانا کنفراس بال به سر کردگی ماسونیزم یهود بود که در آن نقشه دولت مستقل یهود طرح و پروتوکولهای خطرناك بسطح جهانی به خصوص علیه جهان اسلام تصویب و آهسته آهسته به منصه تطبیق گذاشته شد. ماسونیزم و غرب صلیبی به اتفاق رسیدند تا تطبیق این پروگرام کشنده و ضربه، خورد کننده را توسط خود فرزندان ترکیه بر پیکر اسلام و خلافت وارد آورند تا بنام مسلمانان از سرزمین خلافت اسلام را ریشه کن سازند و خود از عقب حجاب و پرده، به تحریك و افساد بپردازند. بنا، گروههای که از جذبه و روحیه، دینی و اسلامی تصفیه گردیده بودند بلکه اصلاً مسلمان نبودند و مربوط حلقه های یهودی متمول سلانیك و دولمه بودند تحت برنامه و شعار ملی گرائی و به میان آوردن قانون بی دینی غربی دست در کار شدند موجودیت ترکیه و خلافت اسلامی را طوری متلاشی کردند که بازگشت نداشت.

در ۳ مارچ سال ۱۹۲٤م خلافت اسلامی لغو گردید.

جدائی دین از دولت و الغاء محاکم شرعی اعلان شد مدارس دینی مسدود، حجاب زنان رفع و تمام احکام اسلامی و شعایر الله ملغی و منع قرار داده شد. سرزمین ترکیه که براي پنج قرن مرکز خلافت و عظمت جهان اسلام پنداشته میشد به یك مرکز و پایگاه ضد دینی و مذهبی مبدل گشت. و یهود به یگانه آرزوی خود یعنی تأسیس دولت مستقل یهودی در سرزمین فلسطین دست یافت و خطری شوم دایی علیه مسلمین و اعراب و قتی عدنان مندرس، رئیس حزب دیموکراتیك و صدر اعظم سالهای ۱۹۵۰ - ۱۹۶۰ در صدد احیاء شعایر دینی شد. و با اعراب علیه اسرائیل به تفاهم و تقارب نزدیك شد.

و سفیر اسرائیل را در ۱۹۵٦م از ترکیه اخراج کرد. مورد تهاجم و انتقاد شدید یهود جهانی و شخصیتهای مقتدر و متمول یهودی دوقه قرار گرفت و به تحریك یهودیها جنرال ماسونی (جمال گورسل) در ۱۹٦۰ در نتیجه یك اقدام عسکری عدنان مندرس را به دار آویخت و به حکومت اش خاتمه داد.

وقتی سلیمان دیمیرل درزمان نخست وزیری اش در پی نزدیکی با جهان عرب شد و خواست از یهود دوری جوید به اثر اقدام یهودیهای ماسونی از چوکی صدارت بر طرف گردید.

داکتر نجم الدین اربکان در سال ۱۹٦۸م به حیث رئیس اطاقهای تجارت و صنایع ترکیه تعیین شده واردات و صادرات را با اسرائیل در فلسطین ممنوع اعلان کرد در نتیجه آن از وظیفه اش برکنار شد. اربکان حزب نظام را اساس گذاشت بعد از انحلال آن حزب رفاه ترکیه را تأسیس کرد.

حزب رفاه در برابر اسرائیل قد علم کرد و دست به افشاء گریهای جاسوسی اسرائیل در ترکیه زد و نقش منفی و ضد دینی یهود را در تخریب و انهدام نظام تعلیمی، به فساد کشانیدن فرزندان مسلمان و از بین بردن قیم اخلاقی اسلام برای مردم و حکومت نشان دهی کرد و در ۱۹۸۰م مظاهره را علیه اسرائیل براه انداخت و در آن بیرق اسرائیل را به آتش کشیدند. بعد از حدوث این جریانات دستهای یهودیت در میان قوای مسلح کارکرد و حکومت ملکی را در نتیجه، کودتای نظامی به رهبری کنعان اوریم در ۱۹۸۰م از بین برد.

حزب رفاه که در سال ۱۹۷۲م به میان آمده بود در همان سال در انتخابات عامه ٤۸ چوکی را از خود کرد و در ائتلاف با حزب مردم به رهبری اجاوید معاون صدراعظم شد. در مورد تعلیم و تربیه فرزندان ترکیه به اساس و روحیه اسلامی اقدام کرد، و برای مسلمانان ترکیه اجازه، به حج رفتن را ارزانی داشت. ۳۰۰۰ مراکز تعلیم قرآن کریم را در اطراف سه صد مدرسه جهت تربیه امامان و خطیبان مساجد تأسیس داشت که به این مدارس بیش از دو صد هزار متعلم رو آوردند. از حکومت خواستار شد تا به عوض یك شنبه روز جمعه رخصتی اعلان گردد، و عقد ازدواج بطریقه شرعی انجام پذیرد درقرآن و زبان عربی در مدارس تدریس گردد... این همه اقدامات و عملکرد های حزب رفاه که بطرف بنیان گزاری یك حکومت شرعی و دینی به پیش میرفت و خطر جدی و محسوس برای نظام لادین (سیکولر) ترکیه بود که حلقه های غربی و یهودی به قبول آن ابداً تن داده نمیتوانستند همان بود که امریکا متوجه حساسیت وضع شده نظامیان ترکیه که اساساً از روحیه وفا داری با دین و ترکیه اسلامی روی یك پلان مرتب و مستمر یهودیت تجرید گردیده بودند به تحریك امریکا در سال ۱۹۸۰ داخل عمل شده زمام امور را بدست گرفتند. اربکان و تعداد از بزرگان حزب رفاه را به زندان کشیدند و ابوریم رهبر نظامیان سال ۱۹۸۱م را سال اتاترك اعلان داشتن. و اکلیل گل بر قبر اتاترك نهاد.

از داشتن ریش در پوهنتونها جلوگیری کرد حجاب اسلامی را از بین برد.

لوی حارنوال نظامی ترکیه اتهامات وارده بر اربکان و سی تن دیگر از رفقایش را درمقابل محکمه چنین بیان داشت که خود نشان دهنده، اهداف اسلامی حزب رفاه و نشان دهنده دشمنی شدید زمامداران بسر اقتدارنظامی ترکیه علیه اسلام میباشد:

۱- کوشش بر تبدیل اساسات دولت قانونی به اساسات و مفاهیم اسلامی.

۲- تأسیس سازمانهای اجتماعی در میان اقشار مختلف ترکیه غرض تنفیذ و عملی کردن شریعت اسلامی.

۳- اجتماعات و شعار های حزب بیانگر مرام نامه و اهداف حزب است و از جمله شعار:

محمد پیشوای ماست - بتها را میشکنیم - و دولت اسلامی برپا میداریم.

٤- از مردم میخواهند که در اجتماعات خیابانی (الله اکبر) بگویند...

وهها از این قبیل موارد به اصطلاح حارنوال نظامی اتهام علیه اربکان و رفقاي کارش در مقابل محکمه اقامه داشته شد که همه نشان دهنده، اهداف مقدس اسلامی حزب رفاه بود که در نزد حکومت نظامی سیکولر ترکیه جرم بس بزرگ پنداشته میشد. لوي حارنوال نظامی از ١٤ - ٣٦ سال حبس برای اربکان و رفقای دینی اش مطالبه کرد.

ترکیه تاریخی که هر مسلمان با آن علاقه میکرد و محبت اش را در دل جای میدهد و از باری تعالی امید و التجاء میدارد که عزت هویت و حیثیت اسلامی خود را کماکان السابق بدست آورد، و ملت ترکیه با پزیرش آلام و مصیبتهای گوناگون در راه عقاید دینی خود الحمد لله حالا هم سرشار از جذبه، دینی و اسلامی بوده اند طوریکه انتخابات اخیر نشان دهنده، علاقه و ایمان کامل ملت ترك به اسلام و اسلامیان میباشد و حزب رفاه که با درایت و دانشمندی کامل مراحل صعب تاریخی را دراه رسیدن به هدف مقدس دینی و ملی خود بابرداشت مصائب و ایثار پشت سر گذاشته و تجارب بس بزرگ و ارزش مندی در طول حیات سیاسی و اجتماعی اندوخته است. و حالا دیگر الحمد لله اعتماد ملت مسلمان ترك را بدست آورده و در ظرف سه ماه برای بار دوم چانس تشکیل حکومت را بدست آورده است یقین میرود که مسؤلین رفاه بدست آورد... هیچ عنی قضایا و مسائل را گرچه کم واندك باشد ترجیح خواهند داد و از شعار ها و ... که قبل از وقت پنداشته خواهد شد دریغ ورزیده آنچه شرایط عینی و ذهنی بر جامعه، ترك و جامعه، جهانی خواسته و نا خواسته از سالیان دراز تحمیل و حاکمیت داره ... نظر دور نداشته و اهمیت آنرا در فرا خور رسیدن به هدف نادیده نخواهند گرفت و ... حساسیت که در اوضاع سیاسی از پیروزی حزب مذهبي لیکود اسرائیل متوجه ... جامعه، اسلامی به خصوص ترکیه خواهد شد از نظر صاحب نظران حزب رفاه پوشیده نخواهد بود.

ما در حالیکه پیروزی و کامیابی حزب رفاه را از حداوند ناصر و حافظ التجاء داشته برای اوشان آن میخواهیم که در انجام و پایان کار خداوند متان خشنود و اوشان معه، همه نهضتهای اسلامی در جهان رستگار شوند و باشند.

زنده باد اسلام - حاکم باد قرآن - مستحکم و پایه دار باد وحدت همبستگی نهضتهای اسلامی در سراسر جهان.

ارواښاد مولانا فضل الرحمن شینواری په حق ورسید

انا لله و انا ... په خواشینی سره مو خبر ... چی د هیواد یو جید عالم او پخوانی خدمتګار مولانا فضل الرحمن شینواری د ... احرام په نهمه د دوشنبی په ورځ د هغی ناروغی له امله چی ورته پیښه شوی وه په حق ... ورسید.

ارواښاد مولانا فضل الرحمن شینواری د هیواد په مشهورو دینی مدرسو کی خپل تحصیلات سرته رسولی او بیاله استازی ... دنیا ... د وطن په خدمت بوخت پاتی شوی او چی کله کمونستانو کودتا وکړه، نو مرحوم ... هم د هجرت له کاروان سره ملګری او دژوند تر وروستی سلګی پوری له خپل خواره ... څخه بهرپاتی شو. د طالبانو د اسلامی تحریک د صوبه سرحد د نمایندګی مسؤلین او ... شریعت د اونیزی کارکوونکی په دی ستر غم کی د مولانا فضل الرحمن شینواری له کورنی او ... له مشر زوی مولوی جلال الدین شینواری سره ځانونه شریك بولی، مرحوم ته د مغفرت دوعا کوی او کورنی ته یی دلوی خدای (ج) له دربار څخه د صبر جمیل غوښتنه کوی. روح دی یی ښاد او نوم دی یی یادوی.

یادونه

ښایی ستاسو ایمان به اجازه در نکړی چی دا ډول سپیڅلی پاڼی په ناوړو ځایونو کښی وغورځوی.

(اداره)